د قرآن او حديثو په رڼا کې د جنت ښکلې ننداري

# جنتي ملمانه

Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: 0093779815770
Facebook: آرمان پښتو کتابتون

ليکوال:
الشيخ ابو طلحه محمد يونس عبدالستار حفظه الله

ژباړن:
زاهد افغان

Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: 0093779815770
Facebook: آرمان پښتو کتابتون

CamScanner

Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: 0093779815770
Facebook: آرمان پښتو کتابتون

# جنتي مېلمانه

د قرآن او حدیثو په رڼا کې د جنت ښکلې ننداره

لیکوال: الشیخ ابو طلحه محمد یونس عبدالستار

ژباړن: زاهد افغان

CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب ځانګړنې:


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | **جنتي مېرمنې** |
| ليکوال | : | **الشيخ ابوطلحه محمد يونس عبدالستار** حفظه الله |
| اردو ژباړن | : | **مولوي محمد طارق** |
| پښتو ژباړن | : | **زاهد افغان** |
| بيا کتنه | : | **مولوي غياث الدين حسان** |
| کمپوز/ډيزاين | : | **صادق الله صادق** |
| چاپ کال | : | **۱۳۹۴ ل. کال** |
| چاپشمېر | : | **۱۱۰۰ ټوکه** |
| د خپرونو لړ | : | **(۲۷۱)** |

## خپرندوی:

## ګودر کتاب خپرنځی- ننګرهار



ګودر کتاب پلورنځی، لانديني پوړ، اسحق زي مارکيټ، بزازی څلورلارې، جلال اباد

اړيکې: ۰۷۹۵۳۵۳۶۱۰-۰۷۹۸۴۸۷۸۷۹-۰۷۸۲۵۰۰۹۱۶

meenasadiqs@gmail.com



**د چاپ حقوق خوندي دي.**

## څو خبرې...

په انساني ژوند کې هم دا خبره شته دی، چې خلک د خپلو مېلمنو ډېر قدر او درناوی کوي.

په تېره بیا زموږ په پښتنه ټولنه کې د مېلمه پالنې روحیه تر بل هر چا زیاته غښتلې او ژوندۍ ده.

که یو څوک ډېر غریب هم وي، خپله که سابه یا سوکړک خوري؛ خو خپلو مېلمنو لپاره یو څه اضافي خواړه برابروي او د مېلمنو د مېلمستیا حق اداکوي.

دا خو د انسانانو خپل منځي خبره شوه او بیا چې څوک د الله تعالی جنتي مېلمانه جوړ شي، نو هلته به د نعمتونو څومره پراخي او پرېماني وي؟ چې تصور کول یې ناشوني دي.

د جنت نوم څومره خوږ دی، هسې په ذهن کې راتلو سره هم د سړي زړه ورسره باغ باغ شي.

کټ مټ دغسې د دوزخ تذکره هم درواخلئ، چې تش د نوم اخیستو سره هم په سړي هیبت راولي او پښې یې لړزېږي، دا ژوند یوه ستره ازموینه ده لکه څرنګه چې زده کوونکي په ښوونځي کې ټول کال خواري وکړي او په پای کې یا ناکامي یا کامیابي وي؟

د دنیا او اخرت ازموینه له دې ډېره سخته ده او په کې دوه خبرې یقیني دي، یا به دوزخ ته ځې او یا جنت ته ؟!

دغه کتاب جنتي مېلمانه، چې اوس ستاسې په لاسو کې دی، د جنت د ترلاسه کولو لپاره تاسې ته ډېره ارزانه او اسانه لاره په ګوته کوي

که دا اذکار مو یاد او زده کړل او عمل مو ورباندې وکړ، نو د دې په برکت سره به د جنت په حقدارانو کې شامل شئ.

نو د وخت له په ګټې اخیستنې سره بېره وکړئ او د خپل پروردګار د رضایت حاصلولو لپاره دغه زرین چانس دلاسه مه ورکوئ، ګنې وروسته به د پښېمانۍ لاسونه مروړئ.

د دې کتاب د کمپوز او ډیزاین په برخه کې له ګران صادق الله صادق څخه زیاته مننه کوم، په ګوتو او قلم یې برکت شه.

له درانه پیاوړي عالم غیاث الدین حسان څخه هم ډېره مننه کوم، چې زما دا کتاب یې له اصل سره وکوت، کور یې ودان او ګودر کتاب خپرنځی دې پرې هم ودان وي.

په اسلامي ولولو

زاهد افغان

افغان کتاب پلورځی – کوټه

# لیکلړ

**موضوع** **مخ**

## لومړی څپرکی


د الله تعالی د ذکر اړتیا او ارزښت ۱
ذکر: ۳
د ذکر ارزښت ۵
ذکر کوونکي او نه کوونکي خلکو مثال: ۶
هر څیز ذکر کوي ! ۸
سپور غوره دی، که سپرلی؟ ! ۹
د جنت لاسته راوړلو اسانه لار: ۱۰
له سورة الاخلاص سره مینه او جنت ۱۵
د جنت ضمانت ۱۹
جنت کې د مانۍ ودانولو اسانه لار ۲۰
له اودس وروسته دوه رکعاته ۲۱
د صبر بدله ۲۴
سید الاستغفار او د هغې فضیلت ۲۷
له فرض لمونځ وروسته د اية الکرسي لوستل ۳۰
د شهید مقام ۳۱
جنتي خویونه ۳۴
عقلمند څوک دی؟ ! ۳۷
د سحر او ماښام له لمانځه وروسته دعا ۳۸
اساني دعاګانې ۴۰
او له خوراک څخه وروسته دا دعا لولئ: ۴۰
دغه راز له اوبو څښلو څخه وروسته دا دعا لولئ: ۴۱
او بل ته د جامو د مبارکۍ ورکولو دعا هم له یاده مه وباسئ: ۴۲

## دویم څپرکی


ایمان او اعمال صالحه ........ ۴۴
ایمان او عمل صالح په قرآن کې ........ ۴۵
په مرګ یقین لرو، خو تیاری ورته نه لرو! ........ ۵۰
جنتي نعمتونه ........ ۵۱
خشیت الهي او جنت ........ ۵۴
غوره خبره ........ ۵۹
په دنیا کې د ژوند تېرولو مثال ........ ۶۰
د صف ډکولو فضیلت ........ ۶۱
په تجارت باندې جنت ........ ۶۲
د جنتي زېرې ورکوونکي صحابي کیسه ........ ۶۴
د جنتي مېرمنې نښې ........ ۶۷
د جنت کیلیانې ........ ۶۸
د اودس فضیلتونه ........ ۶۹
د اودس نه وروسته د دعا فضیلت ........ ۶۹
لارې پاکې کړئ! ........ ۷۲
د مسلمان د سر او مال حرمت، له کعبې څخه هم زیات دی ........ ۷۳
د روغبړ فضیلت او ثواب ........ ۷۴
له الله تعالی څوک پوښتنه نه شي کولای؟! ........ ۷۷
د ښېښې غوښتلو لار ........ ۸۰
د (اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الحَمْدُ) ویلو فضیلت ........ ۸۱
د اوداسه د سنتو او مستحباتو غوره والی ........ ۸۲
د ناروغ د پوښتنې ثواب او غوره والی ........ ۸۳
د مسلمان ورور حاجت پوره کولو پسې تلل ........ ۸۵
د موجوده حالاتو مطابق په زړه پورې دعا ........ ۸۷
د جنت غوښتنه او پکې داخلېدونکي خلک ........ ۸۹



Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: 0093779815770
Facebook: آرمان پښتو کتابتون


CamScanner

# لومړی څپرکی

## د الله تعالی د ذکر اړتیا او ارزښت

په دې اړه داسې وظایف ستاسې په خدمت کې وړاندې کوو، چې لوستل یې ډېر اسانه دي، خو د الله تعالی لخوا د دې بدل د جنت نه علاوه نور څه نه دي.

درنو لوستونکو!

دا خبره ښه په ذهن کې وساتئ، چې کوم غوره والی د ټول کاینات په مقابل کې الله تعالی ته حاصل دی، نو همدومره غوره والی د الله تعالی ذکر ته د نورو عباداتو په مقابل کې حاصل دی.

لنډه دا چې د الله تعالی د ذکر نه ستر بل یو شی هم نشته، لکه څنګه چې د الله تعالی فرمان مبارک دی:(وَلَذِكْرُ ٱللَّهِ أَكْبَرُ﴿٤٥﴾ سورة العنكبوت)

ژباړه:((او د الله یاد له دې نه هم ډېر لوی شی دی.))

که تاسې په دې ایت باندې غور وکړئ، نو اندازه به درته ولګي، چې الله تعالی د خپلې لويي لپاره کوم لفظ استعمال کړی دی، الله اکبر (الله تعالی تر ټولو لوی دی)، نو همدغه لفظ یې د خپل ذکر د عظمت لپاره هم استعمالاوه او د الله تعالی فرمان دی، چې:(وَلَذِكْرُ ٱللَّهِ أَكْبَرُ).

له دې څخه د دوه خبرو اندازه لګي:

۱. د الله د ذکر عظمت.

۲. د دې خبرې اندازه، چې د الله تعالی د ذکر هر قول او عمل د کاینات د ټولو څیزونو په نسبت هماغسې فضیلت ورته حاصل دی، لکه څنګه چې الله رب العزت ته د ټولو کایناتو په نسبت دی، نو هغه خوش قسمته خلک دي، چې په کثرت سره د الله تعالی ذکر، ثناء او صفت بیانوي.

او د دې تایید د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له دې فرمان څخه هم معلومېږي:(عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

«أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ أَعْمَالِكُمْ، وَأَزْكَاهَا عِنْدَ مَلِيكِكُمْ، وَأَرْفَعِهَا لِدَرَجَاتِكُمْ، وَخَيْرٍ لَكُمْ مِنْ إِعْطَاءِ الذَّهَبِ وَالْوَرِقِ، وَخَيْرٍ لَكُمْ مِنْ أَنْ تَلْقَوْا عَدُوَّكُمْ فَتَضْرِبُوا رِقَابَهُمْ وَيَضْرِبُونَ رِقَابَكُمْ؟ ذِكْرُ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ»[1]

"له ابودرداء رضی الله عنه څخه روایت دی، چې وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: ایا تاسې ته ستاسې په اعمالو کې د یو داسې عمل په اړه ونه وایم، چې هغه ستاسې د رب په وړاندې تر ټولو غوره او سپېڅلی وي او ستاسې د درجو اوچتوونکی وي، د سرو او سپینو زرو د مصرف کولو نه زيات وي، چې تاسې د الله تعالی په لاره کې د دښمنانو سره په جګړه، قتل و قتال کې مشغوله اوسئ.

صحابه کرامو عرض وکړ: ولې نه؟ ضرور یې راته ووایه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: دا د الله تعالی ذکر دی، چې د ټولو عملونو څخه بهتر دی."

## ذکر:

حافظ ابن حجر رحمه الله په خپل شهکار کتاب "فتح الباري" کې د دې حدیث په تشریح کې لیکلي دي، چې د ابودرداء دې حدیث کې د یاد ذکر څخه مراد کامل ذکر دی او د کامل ذکر تعریف هغه داسې وړاندې کړی دی، چې د الله تعالی عظمت او لويي مخې ته راوستو سره، په ژبه ذکر باندې مشغول کېدل دي او زړه په مانا، غور او فکر باندې کوم سړي ته چې دغه کیفیت حاصل شي، د هغه مرتبه د هغه سړي نه هم لوړه ده، څوک چې د کفارو سره مد مقابل وي، په شرط د دې چې زړه یې د الله تعالی د یاد څخه غافل نه وي.

پاتې شوه خبره د جهاد د فضیلت، په دې کې خو شک نشته چې جهاد ته په مقابل د دې ذکر فضیلت حاصل دی، چې یوازې په ژبه ویل کېږي. خلوص دا چې کوم سړي ته دغه ټول صفتونه حاصل وي، د مثال په توګه

[1] مسند أحمد مخرجا (۴۵/۵۱۵).

که یو سړی د زړه د توجو سره د الله تعالی د عظمت لویي نظر کې نیولو سره ذکر کوي او همدغسې حالت کې پېنځه وخته لمونځ، روژې او د الله تعالی په لار کې مصرفونه هم کوي او د جنګ په میدان کې د الله تعالی د دښمنانو سره د جګړې پرمهال کې هم او په هر حال کې بې زړه د الله تعالی د یاد نه غافله نه وي، نو په یادو نښو سره کتلی او ویلی شو، چې دغه سړي منزل مقصود ته رسېدلي دي، پاتې نور د حقیقت په حال باندې الله تعالی ښه پوهېږي.

(عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ أَيُّ العِبَادِ أَفْضَلُ دَرَجَةً عِنْدَ اللهِ يَوْمَ القِيَامَةِ؟ قَالَ: الذَّاكِرُونَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتُ. قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ وَمِنَ الغَازِي فِي سَبِيلِ اللهِ؟ قَالَ: لَوْ ضَرَبَ بِسَيْفِهِ فِي الكُفَّارِ وَالْمُشْرِكِينَ حَتَّى يَنْكَسِرَ وَيَخْتَضِبَ دَمًا لَكَانَ الذَّاكِرُونَ اللَّهَ كَثِيرًا أَفْضَلَ مِنْهُ دَرَجَةً.)[1]

ژباړه:((له ابو سعیدالخدری رضی الله عنه څخه روایت دی، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشوه، چې د قیامت په ورځ الله تعالی ته نېږدې تر ټولو غوره مرتبې و الا کوم سړی وي؟

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ځواب ورکولو سره وویل: هغه خلک څوک چې په زیادت سره د الله تعالی ذکر کوي.

ما وپوښتل:ای رسول الله صلی الله علیه وسلم! ایا د دې خلکو مرتبه د الله تعالی په لاره کې د جهاد کوونکو څخه هم غوره ده؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: د هغه مجاهد نه هم غوره ده، کوم چې په خپلې تورې باندې د الله تعالی د دښمنانو سرونه غوځوي، تر دې چې د هغه توره په همدې حالت کې ماته شي او وینه ترې څڅېږي.))

[1] سنن الترمذي ت بشار (۵/ ۳۱۹).

(وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:"«لَوْ أَنَّ رَجُلًا فِي حِجْرِهِ دَرَاهِمُ يُقَسِّمُهَا، وَآخَرُ يَذْكُرُ اللَّهَ كَانَ ذِكْرُ اللَّهِ أَفْضَلَ»".)[۱]

د دې حدیث مفهوم داسې دی، که یو سړی په خپلې غېږه کې درهم کېږدي او تقسیموي یې او بل کس د الله تعالی په ذکر کې مشغول وي، نو د الله تعالی په ذکر باندې د مشغول سړي فضیلت پرې زیات دي.

(عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ الْجُهَنِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَفْضُلُ الذِّكْرُ عَلَى النَّفَقَةِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى بِسَبْعِ مِائَةِ أَلْفِ ضِعْفٍ»)[۲]

سهیل بن معاذ بن انس الجهني رضی الله عنه او هغه له خپل پلار څخه روایت کړی چې وایي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د ذکر کولو فضیلت د الله تعالی په لار کې د مصرف کولو نه اووه سوه زره ځله زیات دی.

بله یې په ذهن کې وساتئ، الله تعالی چې د خپلو بنده ګانو په غاړه کوم فرایض اچولي، نو د هغوی یو نه یو حد هم مقرر کړی دی او د عذر په حالت کې یې د پرېښودلو اختیار هم ورکړی، بغیر د ذکر نه او د ذکر لپاره الله تعالی کوم حد نه دی مقرر کړی.

الهي فرمان دی، چې: (ٱلَّذِينَ يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمٗا وَقُعُودٗا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمۡ ﴿١٩١﴾ سورة ال عمران)

ژباړه:((په ناسته، ولاړه او ملاسته (هر حال کې) الله تعالی یادوي.))

مطلب دا چې که ورځ وي که شپه، په وچه یا دریاب، سفر وي یا قیام، که غني وي که فقیر، ناروغ یې که روغ، یوازې یې که په ګڼه ګونه کې په

---

[۱] مجمع الزوائد ومنبع الفوائد (۱۰/۷۴).

[۲] مسند أحمد مخرجا (۱۵۶۸۵).

هر حال کې د الله تعالی ذکر کې بوخت او مشغول پاتې کېدو کوښښ کول پکار دي.

الله تعالی وايي:(وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلاً﴿٤٢﴾سورة الاحزاب)

ژباړه:((او سهار او ماښام د هغه تسبيح وايئ.))

او چې انسان دغسې ژوند غوره کړي، نو په هغه د الله تعالی رحمتونه نازلېږي او ملايک ورته د مغفرت دعاګانې کوي، لکه څنګه چې د الله تعالی فرمان دی: (هُوَ ٱلَّذِى يُصَلِّى عَلَيْكُمْ وَمَلَآئِكَتُهُ﴿٤٣﴾ سورة الاحزاب)

ژباړه:((هماغه ذات دی، چې پرتاسې رحمت کوي او د هغه ملايک ستاسې لپاره د رحمت دُعا کوي.))

## د ذکر ارزښت

ابن قيم رحمه الله په خپل کتاب "مدارج السالکين" کې د ذکر فضيلت بيانولو سره ليکلي دي: د ذکر اهميت او ارزښت د يو ستر جماعت شتمنۍ په څېر دی، چې د هغې نه هغوی ګټه ترلاسه کوي او دا يې د سرمايه کارۍ ذريعه ده او همدا يې هر څه وي.

وړاندې ليکي، ذکر د بزرګۍ يو داسې منشور دی، چې چاته حاصل شي، نو هغه به د الله تعالی نېږدېوالی هم مومي او څوک چې ترې محرومه شي، د الله تعالی نېږدېوالی نه شي ترلاسه کولی.

ذکر د خلکو د زړونو د هغه قوت او انرژۍ نوم دی، چې د هغې نه بغير وجود د قبرونو په مثال کېږي.

ذکر د اوسېدو د هغه ودانۍ په څېر دی، چې د هغې بنياد کمزوری وي، نو ټوله ودانۍ د تباهۍ سرحد ته رسولی شي، د ذکر حيثيت د هغه وسلې په څېر دی، چې د هغې پرمټ د غلو، شوکمارو څخه د خپل ځان او مال ساتنه پرې کوي، د ذکر حيثيت د هغه اوبو په څېر دی، چې د هغې پر واسطه د جهنم اور مړ کولی شي.

ذکر خلکو لپاره د الله تعالی سره د اړیکو جوړولو یوه مهمه وسیله ده او په همدې وسیله باندې د خپل رب د قدرتي افتونو او تکلیفونو له منځه وړلو کې مرسته ترلاسه کولی شي او له دې سببه د مصیبتونو تېرول پرې اسانېدلی شي، چې تیاره ژوره شي نو په ذکر سره رڼا یې ترلاسه کولی شو او چې د مصیبت ښکار شو، نو همدا د سرپناه ځای کېدلای شي.

لنډه دا چې نېکانو خلکو لپاره ذکر د جنت یو باغ دی، چې هغه به پکې مزو سره ګرځي او همدا یې د سعادتمندی سرمایه ده، چې خلک ترې ګټه ترلاسه کولی شي.

## ذکر کوونکي او نه کوونکي خلکو مثال:

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی، چې:(عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَثَلُ الَّذِي يَذْكُرُ رَبَّهُ وَالَّذِي لاَ يَذْكُرُ رَبَّهُ، مَثَلُ الحَيِّ وَالمَيِّتِ»)[1]

له ابو موسی رضی الله عنه څخه روایت دی، دی وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د هغه سړي مثال چې د الله تعالی ذکر کوي، د ژوندي په څېر دی او کوم سړی چې د الله تعالی ذکر نه کويي، د هغه مثال د مړي په څېر دی. .

دغه راز په بل حدیث کې راځي:

(عَنْ أَبِي مُوسَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ:«مَثَلُ الْبَيْتِ الَّذِي يُذْكَرُ اللهُ فِيهِ، وَالْبَيْتِ الَّذِي لَا يُذْكَرُ اللهُ فِيهِ، مَثَلُ الْحَيِّ وَالْمَيِّتِ»)[2]

له ابو موسی رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: هغه کور چې پکې د الله تعالی ذکر کېږي، نو مثال یې د ژوندیو خلکو د کور په څېر دی او په کوم کور کې چې د الله تعالی ذکر نه کېږي، نو د هغه مثال د هدیرې په څېر دی.

---

[1] صحیح البخاري (۸/ ۸۶).
[2] صحیح مسلم (۱/ ۵۳۹).

ابن قيم رحمه الله وايي: چې په دې حديث کې د ذکر کوونکو خلکو کورونه د ژوندیو خلکو د کورونو په څېر گرځول شوي دي او د ذکر نه غافله پاتې کېدونکي خلکو کورونه د هديرو په مثال گرځول شوي دي.

په لومړي حديث کې ذکر کوونکي د ژوندیو زړونو او هغوی چې ذکر نه کوي، د مړو زړونو په مثال حساب دي.

نو د پورته احاديثو په رڼا کې دا خبره ثابتېږي، چې د ذکر نه غافله او بې پروا وجودونو زړونه د قبرونو په شان دي او د هغو زړونو ته په وجود کې دا حيثيت حاصل دی، لکه په قبرونو کې چې د مړو وي.

درنو لوستونکو!

ښه پوی شئ، چې د الله تعالی د ذکر سره زړونو ته قوت رسېږي او دا هغه وسله ده، چې د دې په ذريعه د افتونو، مصيبتونو، دنياوي او اخروي تکليفونو څخه پرې خپله دفاع کولی شئ.

ملا علي قاري رحمه الله وايي: هغه خلک چې د ذکر له نعمت څخه محروم وي، ځوک چې د گناهونو څخه د ځان ژغورنې کوښښ نه کوي او د سرکشی څخه لاس نه اخلي، د هغو زړونه په گناه کولو سره تور شوي اوسي، د هغو فطرتونه مسخ شوي وي او د خير حس قدرې هم پکې پاتې شوي نه اوسي.

امام طبري رحمه الله د (أُوْلَـٰٓئِكَ كَٱلْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ...) په تفسير کې ليکلي دي، له انعام څخه مراد هغه ځناور دي، چې په څه خبره نه پوهېږي او کوم شيان چې ورته په نظر راځي، په هغې کې د ښو او بدو تمييز نه شي کولی، د چا په زړه کې چې د ښو او بدو پوهه نه وي، چې په ښو او بدو کې توپير وکړي.

نو الله تعالی داسې خلکو ته چې په خپلو غړېدلو سترگو او روښانه دلايلو د ليدلو باوجود نصيحت نه شي ترلاسه کولی، د قرآن اياتونه؛ خو اوري، خو د غور او فکر زحمت پکې نه شي کولی، نو دغسې خلک د ځناورو سره مشابه

CS CamScanner

شوې دي، الله تعالی مني؛ خو د الله تعالی نه مني، قرآن مني؛ خو د قرآن نه مني.

او صرف په دې خبره بسنه نه ده شوې، بلکې وړاندې ورته له دې هم سخت الفاظ استعمال کړای شوي دي.

(...بَلْ هُمْ أَضَلُّ...) چې دا خلک د ځناورو هم بدتر دي.

ځکه چې ځناورو کې خو عقل نه وي، چې د هغې په ذريعه د ښو او بدو تميز وکړي، بلکې هغوی خو د رب لخوا په کار بوخت وي، خو د دې باوجود بيا هم د مضرو شيانو نه خپله ساتنه کوي او د ګټورو شيانو په لټه کې ګرځي.

او د کومو خلکو په اړه چې الله تعالی په دې ايت کې يادونه کړې ده، په دوی خو الله تعالی د عقل په څېر نايابه شتمني هم لورولې ده، چې د هغې په واسطه د حق او باطل ترمنځه توپير کولی شي، خو ددې هر څه سره بيا هم له دين نه لرې ګرځي، چې ورسره يې دنيا او اخرت سينګارېدلی شي.

خو افسوس داسې شيانو پسې نښتې دي، چې په دنيا او اخرت دواړو کې پرې راګيرېدلی شي.

که تاسې دغه ټول حقايق په نظر کې ونيسئ، نو تاسې ته به د رب العالمين فرمان سم او پرځای څرګند شي.

## هر څيز ذکر کوي!

درنو لوستونکو!

د الله تعالی ذکر يوازې انسانانو لپاره ځانګړی نه دی، بلکې ټول مخلوقات عاقل وي او که بې عقله هر يو په خپله ژبه د الله تعالی تسبيحات او پاکي بيانوي او د هغې نه لذت اخلي، تر دې چې مېږي په خپله سوري کې، ماهيان د درياب په تل کې او مرغان په هوا کې د الله تعالی په تسبيحاتو باندې مشغول وي او د دې خبرې يادونه الله تعالی په قرآن کريم کې داسې کړې ده:

(تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَاوَاتُ ٱلسَّبْعُ وَٱلْأَرْضُ وَمَن فِيهِنَّ وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَـٰكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ﴿٤٤﴾ سورة بني اسرائيل)

((د هغه پاکي خو اووه اسمانونه او ځمکه او هغه ټول شيان بيانوي چې په اسمانونو او ځمکه کې دي هېڅ شی داسې نه شته، چې د هغه له ستاينې سره د هغه پاکي نه بيانوي؛ خو تاسې د هغو په پاکی بيانولو نه پوهېږئ.))

بلکې په ځينو رواياتو کې تر دې پورې هم راځي، چې ځنې ځناور د خپلې سپرلی، څخه زيات بهتر وي، ځکه چې هغه د الله تعالی ذکر کوي، خو پرې سپور سړی ترې غافل وي.

خو ماشاءالله په چا چې د الله تعالی فضل وشي، هغه ډېر نېکمرغه وي او د انسان د پيدايښت مقصد هم عبادت دی او الله تعالی ورته پرځای توصيه کړې ده.

(...وَلَا تَكُن مِّنَ ٱلْغَافِلِينَ﴿٢٠٥﴾ سورة الاعراف)

يانې: له غفلت کوونکو څخه مه کېږئ!

نو موږ د الله تعالی پناه غواړو، له داسې مصروفياتو نه، چې موږ د خپل پرودگار او پالونکي له ياد څخه غافله کړي.

محترمو لوستونکو! موږ بايد د خپل رب العالمين په ذکر کې کم از کم له ځناورو څخه زيات غفلت ونه کړو.

پوښتنه دا ده، ايا موږ له هغو څخه زيات بې حسه شوي يو؟ چې د خپل رب له ياد څخه بې پروا او غافله يو؟

او خپل کورونه مو د هديرو په څېر جوړ کړي دي؟ موږ سره د دې خبرې فکر ولې نه شته، چې د الله تعالی د ياد نه پرته مو زړونه مړه کېږي.

## سپور غوره دی، که سپرلی؟!

(عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ مَرَّ عَلَى قَوْمٍ وَهُمْ وُقُوفٌ عَلَى دَوَابَّ لَهُمْ وَرَوَاحِلَ، فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى

الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ارْكَبُوهَا سَالِمَةً وَدَعُوهَا سَالِمَةً، وَلَا تَتَّخِـذُوهَا كَرَاسِـيَّ، لِأَحَادِيثِكُمْ فِي الطُّرُقِ، وَالْأَسْوَاقِ فَرُبَّ مَرْكُوبَةٍ خَيْرٌ مِنْ رَاكِبِهَا هِيَ أَكْثَـرُ ذِكْرًا لِلَّهِ تَعَالَى مِنْهُ»[1]

له سهل بن معاذ رضی الله عنه او هغه له خپل پلار څخه روايت کړی دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په څه داسې کسانو تېر شو، چې په خپلو سپرلیو باندې سپاره وو او پـه لاره کـې ولاړ ول او د يـو بـل سره يـې خـبرې کولې.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څناور د خپلو سپرلیو لپاره داسې وخت استعمالوئ، چې هغه د سپرلۍ د وړلو وړ وي او د حد نه زيات ستړي کولو پرمهال يې پرېږدئ او دا پـه لارو او بـازارونو کـې د چوکيـو پـه څېرمه استعمالوئ، ځکه ډېرې سپرلۍ د الله تعالی په نېز د خپلو سپاره شوو نه زياتې غوره وي، په نسبت د هغه سپرونه چې د الله تعالی په ذکر مشغول وي.

د دې وړاندېزونو نه وروسته مـوږ ستاسـې پـه خـدمت کـې داسـې اذکـار وړاندې کوو، چې په هغو عمل کول ډېر اسانه دي، خو پـه ورځ د قيامـت بـه ستاسې لپاره د جنت د تلو سبب وګرځي.

## د جنت لاسته راوړلو اسانه لار:

ښه يې په ياد لرئ، چې د (لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ) کليمـه توحيـد دی او د توحيـد نه پرته ټول عبادتونه بې کاره دي، د نبي کريم صـلی الله عليـه وسـلم مبـارک فرمان دی، چې د ټولو اذکارو نه غوره همدا ذکـر دی، لکـه څرنګـه چـې بـه حديث مبارک کې راځي: («أَفْضَلُ الذِّكْرِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَفْضَـلُ الـدُّعَاءِ الْحَمْدُ لِلَّهِ»)[2] يانې: تر ټولو غوره او ستر ذکر د (لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ) دی او تر ټولـو غوره او ښکلې دعا (الْحَمْدُ لِلَّهِ) ده.

---

[1] مسند أحمد مخرجا (۴۰۴/۲۴).
[2] سنن الترمذي ت شاکر (۴۶۲/۵).

دا هغه کلیمه ده، چې د دې په ذریعه د مؤمن او کافر پېژندګلوي کېږي، ځکه د دې کلیمې تاثیر داسې دی، چې د دې له امله د مؤمن یقین په الله تعالی باندې پخېږي او د غیرالله وېره یې له زړه څخه وځي او په دې کلیمې سره د ظاهر او باطن صفایي کېږي او زړه د نفسیاتي خواهشاتو او د شیطاني مکر و فرېب څخه پرې ساتلی شي.

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمان مبارک دی: (وَأَفْضَلُ مَا قُلْتُ أَنَـا وَالنَّبِيُّونَ مِنْ قَبْلِي: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ")(۱)

د دې احادیث مفهوم داسې دی: دا هغه ستره کلیمه ده، چې د دې دعوت کولو لپاره الله تعالی کم و زیات یو لک او څلورویشت زره پیغمبران مبعوث کړي وو او په خپله هم الله تعالی خپلو بنده ګانو ته د دې دعوت ورکړی دی او له دې نه وروسته پیغمبرانو اولیاوو هم د دې کلیمې د تبلیغ او خپرولو لپاره محنتونه کړي دي، ترڅو خلک د دې په ذریعه د دنیا او اخرت ګټې ترلاسه کړي او د جنت د مېلمستیا خوندونه واخلي او هم د دردناکه عذابونو څخه پرې نجات ومومي.

نو ایا د ایمان راوړلو نه وروسته د دې کلیمې نه بله غوره کومه کار کېدلی شي؟

نه کله هم نه، دا هغه کلیمه ده چې بنده یې د زړه له اخلاصه ولولي، چې څوک هم وي، چرته هم وي، نو الله تعالی به یې خپل رحمت سره په جنت کې داخل کړي.

په دې اړه څو دلایل راوړو، لومړی دلیل: (عَنْ ابي ذَرٍّ حَدَّثَهُ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ نَائِمٌ عَلَيْهِ ثَوْبٌ أَبْيَضُ، ثُمَّ أَتَيْتُهُ فَإِذَا هُوَ نَائِمٌ، ثُمَّ أَتَيْتُهُ وَقَدِ اسْتَيْقَظَ فَجَلَسْتُ إِلَيْهِ، فَقَالَ: " مَا مِنْ عَبْدٍ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّـا اللهُ، ثُمَّ مَاتَ عَلَى ذَلِكَ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ " قُلْتُ: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ؟ قَالَ: «وَإِنْ

(۱) موطأ مالك ت عبد الباقي (۱/ ۲۱۵).

زَنَى وَإِنْ سَرَقَ» قُلْتُ: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ؟ قَالَ: «وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَـرَقَ» ثَلَاثًا، ثُمَّ قَالَ فِي الرَّابِعَةِ: «عَلَى رَغْمِ أَنْفِ أَبِي ذَرٍّ» قَالَ: فَخَرَجَ أَبُو ذَرٍّ وَهُوَ يَقُولُ: وَإِنْ رَغِمَ أَنْفُ أَبِي ذَرٍّ.)[1]

له ابو ذر رضی الله عنه څخه روايت دی، چې زه د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شوم، رسول الله صلی الله عليه وسلم سپين څادر په ځان اچولی و او ويده و، زه بېرته ستون شوم: چې دوباره راغلم، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم هماغسې ويده و، زه بيا واپس ستون شوم. څه شېبه وروسته بيا راغلم، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويښ شوی و، نېږدې ورسره کېناستم. رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: کوم سړی، چې د زړه له اخلاصه (لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ) ووايي او د ايمان په حالت کې ورته مرګ راشي، نو هغه به جنت ته داخل شي.

ما عرض وکړ، که هغه د زنا او غلا کړي وي؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: که هغه زنا او غلا هم کړې وي.

ما بيا دغه پوښتنه تکرار کړه: رسول الله صلی الله عليه وسلم دويم وار همدا ځواب راکړ. درې ځله همداسې وشول.

په څلورم ځل رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: اګر که د ابوذر پوزه په خاورو هم شي.

ابوذر رضی الله عنه وايي: ما دا جمله له ځان سره تکراروله او له هغه ځای روان شوم(وإن رغم أنف أبي ذر).

**دويم دليل**:(عَنْ يَعْلَى بْنِ شَدَّادٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي شَـدَّادُ بْـنُ أَوْسٍ، وَعُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ، حَاضِرٌ يُصَدِّقُهُ قَالَ: كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «هَلْ فِيكُمْ غَرِيبٌ؟» يَعْنِي أَهْلَ الْكِتَابِ. فَقُلْنَا: لَا يَا رَسُولَ اللَّهِ. فَأَمَرَ بِغَلْقِ الْبَابِ، وَقَالَ: " ارْفَعُوا أَيْدِيَكُمْ، وَقُولُوا: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ " فَرَفَعْنَا أَيْـدِيَنَا

---

[1] صحيح مسلم(۱/ ۹۵).

ساعَةً، ثُمَّ وَضَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ، ثُمَّ قَالَ: «الْحَمْدُ لِلَّهِ، اللَّهُمَّ بَعَثْتَنِي بِهَذِهِ الْكَلِمَةِ، وَأَمَرْتَنِي بِهَا، وَوَعَدْتَنِي عَلَيْهَا الْجَنَّةَ، وَإِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ» ثُمَّ قَالَ: «أَبْشِرُوا، فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ غَفَرَ لَكُمْ»»[1]

يعلى بن شداد رضی الله عنه وايي، چې ماته خپل پلار (شداد بن اوس رضی الله عنه) ويل، چې يو ځل موږ د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو. او عباده بن صامت رضی الله عنه هم په دې مجلس کې ناست و.

رسول الله صلى الله عليه وسلم پوښتنه وکړه: ايا په حاضر مجلس کې د اهل کتابو څوک سړی شته؟

موږ ځواب ورکړ: نه!

رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: دروازه بنده کړئ او خپل لاسونه (لپه) پورته کړئ او د کليمې طيبې تکرار پيل کړئ.

څه شيبه وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل لاسونو ښکته کولو سره وويل: («الْحَمْدُ لِلَّهِ، اللَّهُمَّ بَعَثْتَنِي بِهَذِهِ الْكَلِمَةِ، وَأَمَرْتَنِي بِهَا، وَوَعَدْتَنِي عَلَيْهَا الْجَنَّةَ، وَإِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ»)

ياني: ټول تعريفونه الله تعالى لره دي، ای الله تعالى! تا زه د دې كليمې دعوت لپاره رالېږلی يم او ماته دې هم د دې امر کړی او د دې په بدل کې دې ما سره د جنت وعده کړې ده، يقيناً ته د خپلې وعدې خلاف نه کوې.

بيا يې وويل:(ثُمَّ قَالَ: «أَبْشِرُوا، فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ غَفَرَ لَكُمْ») ياني: خوشحاله شئ الله تعالى ستاسې د مغفرت ښښنې فيصله کړې ده.

دا رښتيا خبره ده چې په کليمه ويونکو خلکو کې چې څوک هم دوزخ ته لاړ شي، نو هغه به د خپلې ناداني او تېروتنې له امله وي.

---

[1] مسند أحمد مخرجا (۲۸/ ۳۴۸).

څکه چې دا داسې سپېڅلې کلیمه ده، که یو ځل هم د زړه له اخلاصه ولوستل شي، نو زړونه له غیرالله څخه پاکوي.

چې چا هم دغه کلیمه د زړه له اخلاصه ولوسته او په دې یې ایمان جوړ شو، نو په زړه کې به یې د الله تعالی نه پرته د بل یو شي محبت هم نه پرېوځي او په زړه کې به یې د الله تعالی نه پرته د بل چا وېره رانه شي.

د هغه یقین به یوازې د خپل رب په ذات باندې قایم وي، خو که د دې مبارکې کلیمې لوستو نه وروسته هم د چا په زړه کې د الله تعالی نه پرته نور اثر باقي پاتې شي، نو هغه دې د خپل یقین د پخلي فکر وکړي.

گرانو لوستونکو!

چا چې هم دغه کلیمه په رښتینې زړه سره ولوسته او د هغې غوښتنې یې پوره کړې، نو دا کلیمه به یې په دنیا او اخرت کې په کار راشي، تر دې چې د مرگ په وخت کې به یې هم بې مرستې پرې نه ږدي، څومره خوش قسمته دي، هغه خلک چې هغو ته په داسې حال کې مرگ راځي، چې په ژبه یې دا کلیمه جاري وي.

په همدې اړه یوه پېښه تاسې ته بیانوم:

جعفر رحمه الله فرمایي، چې زه د ابو عمران جوني په خدمت کې حاضر شوم، هغه د مرگ او ژوند په کشمکش کې و، په دې وخت کې ایوب سختیاني رحمه الله هم تشریف راوړ، د دې حالت په لیدو سره یې د هغه زوی ته وویل: خپل پلار ته د کلیمې طیبې تلقین وکړه، ابوعمران چې د مرگ په بستر پروت و، ویې ویل: زما په زړه او دماغو کې دا وخت د کلیمې طیبې نه پرته نور څه نه شته.

درنو لوستونکو! په موږ کې څوک دا نه غواړي، چې د مرگ په وخت کې یې کلیمه طیبه په نصیب نه شي؟

نو د دې لپاره د اوس نه تیاری ونیسئ او د رښتینې زړه د اخلاص د نیت سره (لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ) ووایئ او خپل ژوند د دې کلیمې لاندې د تېرېدو عزم وکړئ.

څکه په هغه ورځ به زموږ په کار راشي، په کومه ورځ چې ټول راسره ملګرتيا پرېږدي، تر دې چې مور او پلار به هم رانه پردي شي.

د داسې ځان ځانی او نفسانی په عالم کې مو دا کلیمه او نېک کارونه په کار راتلای شي.

له ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی، د نبي کريم صلى الله عليه وسلم ارشاد مبارک دی، چې مفهوم يې داسې دی:

عزرايل عليه السلام د يو سړي روح قبض کولو پسې راغلی و، د ټولو نه لومړی يې د هغه د بدن غړي وچېړل، خو په هغې کې ورته يو هم ښه عمل په نظر ښکاره نه شو.

بيا يې د هغه زړه وچېړلو د هغې نه هم کوم خير راونه وتلو، نو بيا يې د هغه دواړه ژامې ونيولې او خوله يې پرانيستل شوه، نو ژبه يې د تالو پورې نښتې وه او د کليمې طيبې ورد يې کولو نو د همدې کليمې په برکت يې د مغفرت فيصله وکړای شوه.

او بيا وايي، چې: د قيامت په ورځ به الله رب العزت د يو سړي دوزخ ته د تلو امر وکړي، کله چې هغه د دوزخ په غاړه ودرېږي، نو شاته به وګوري او وبه وايي:والله چې ربه! زما خو پر تا باندې نېک ګومان و. نو الله تعالی به ووايي: بېرته يې راولئ، زه خپل بنده سره داسې معامله کوم، څنګه چې د هغه پر ما ګومان وي.[1]

## له سورة الاخلاص سره مينه او جنت

له انس بن مالک رضی الله عنه څخه روايت دی، چې د انصارو سره تعلق لرونکی يو سړی زموږ امام و.

هغه د هر لمانځه په هر رکعت کې د سورت اخلاص تلاوت کاوه، که د بل هر صورت تلاوت به يې کولو، مخکې به يې ترې خامخا سورت اخلاص لوسته.

---

(1) شعب الإيمان (۲/ ۳۲۳).

يو خل نبي كريم صلی الله عليه وسلم هلته تشريف راوړ، نو د هغه امام مقتديانو رسول الله صلی الله عليه وسلم ته په دې اړه ووېل؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ووېل: د خپلو مقتديانو د خواهش مطابق تلاوت ولې نه کوې؟ او په هر رکعت کې سورت اخلاص ولې لولې؟

هغه په ځواب کې ووېل: ای د الله تعالی رسوله! زما له دې سورت سره بې کچه مينه ده.

نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته ووېل: د دې مينه به تا په جنت کې داخل کړي.

علامه ابن كثير رحمه الله هم په دې مفهوم سره يو حديث نقل کړی دی.

چې ابوهريره رضی الله عنه وايي: زه د نبي كريم صلی الله عليه وسلم سره چېرته روان وم.

رسول الله صلی الله عليه وسلم يو سړی د سورة اخلاص په تلاوت کولو سره وليد، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ووېل: (وَجَبَ) يانې واجب شو.

ما عرض وکړ: څه واجب شول؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم ووېل: جنت واجب شو. (د دې په جنت کې د داخلېدلو پرېکړه وشوه.)[1]

ګرانو لوستونکو! په موږ کې هر يو کس د الله تعالی او د هغه د كتاب سره د مينې دعوې کوو، ايا موږ په دې دعوو کې رښتيني يو، که درواغجن؟

ايا دا مينه په هغه درجه کې ده، کومه چې د نبي كريم صلی الله عليه وسلم په فرمان کې نغښتل شوې ده؟

يا زموږ لپاره به جنت ته د داخلېدو لامل وګرځي او که نه؟

د دې اندازې به زموږ د طرز عمل سره وي، که طرز عمل مو د دې صحابي په څېر وي، نو پوی شئ چې مينه مو رښتينې، سپېڅلې او سوچه ده

---

[1] سنن ترمذي. حديث ۲۸۹۷.

او که هسې مو دعوه صرف د دعوې ترحده پورې وي، نو وېره ده، چې له دې فضيلت څخه محروم نه شو.

علامه مناوي رحمه الله د یاد حدیث په تشریح کې د رښتیني مینې معیار ښودلي دي او د رښتینې مینې نښه دا ده، چې عاشق به هر وخت د خپل محبوب ذکر کوي او له دې نه پرته به ورته سکون نه راځي.

ځینې حضراتو د رښتینې مینې تذکره داسې اندازې سره کړې ده، چې د رښتینې مینې پېژندنه داسې ده، چې عاشق به هر وخت د خپل محبوب تذکره کوي، نه به یې ترې زړه مړېږي، نه به ترې د ستړیوالي احساس کوي، بس تل لپاره به یې دغه بوختیا وي، د محبوب د یاد نه پرته به بل هېڅ شی ورته خوند او مزه نه ورکوي.

او که هغه له دې کار نه منع کړای شي، نو ژوند به یې بې رنګه او بې خونده شي.

څنې خو تر دې پورې وايي، چې رښتینی عاشق هغه دی، چې هره ساه یې د محبوب یاد وځوروي.

له الله تعالی څخه دعا کوو، چې زړونه مو داسې د قرآن سره ولګوي، چې قرآن مو پرده پوښ شي او له قرآن کریم پرته راته سکون او قرار نه وي.

درنو ملګرو!

که زموږ دعوه رښتینې وي، نو کم از کم هره شپه درې ځلې سورة اخلاص لوستل مو عادت وګرځوو او په دې عمل کې باید غفلت ونه کړو.

ځکه چې مهربانه او خوږ پیغمبر محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم موږ ته د دې ترغیب راکړی دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته وفرمایل:(«أَيَعْجِزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَقْرَأَ ثُلُثَ الْقُرْآنِ فِي لَيْلَةٍ؟» فَشَقَّ ذَلِكَ عَلَيْهِمْ وَقَالُوا: أَيُّنَا يُطِيقُ ذَلِكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ فَقَالَ: «اللَّهُ الْوَاحِدُ الصَّمَدُ ثُلُثُ الْقُرْآنِ».)[1]

---

[1] صحيح البخاري (۲/ ۱۸۹).

"ايا په تاسې کې دا همت شته، چې هره شپه د قرآن کريم د درېيمې برخې تلاوت وکړي؟!

صحابه کرامو رضی الله عنهم ته دا سخته معلومه شوه، نو عرض يې وکړ: اې د الله تعالی رسوله صلی الله عليه وسلم! څوک به دومره همت وکړي، چې هره شپه دې يوه برخه قرآن کريم تلاوت کړي؟

نبي کريم صلی الله عليه وسلم ځواب ورکړ: د سورة اخلاص تلاوت د درېيمې برخې قرآن برابر دي."

دغه شان په يو بل حديث کې راځي:(«وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّهَا لَتَعْدِلُ ثُلُثَ القُرْآنِ».)(۱)

په دې حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم په سوګند کولو سره ويلي دي، چې د سورة اخلاص د تلاوت ثواب د قرآن کريم د درېيمې برخې سره برابر دی.

اوس چې موږ ته معلومه شوه، چې د سورة اخلاص فضيلت دومره زيات دی، نو فکر وکړئ، هسې نه چې په غفلت سره موږ د دې فضيلت لاسته راوړنې څخه محروم شو او ژوند مو هسې په غفلت کې تېر شي.

د دې لپاره همدا اوس نه قوي عزم وکړئ، چې راتلونکي کې به سورة الاخلاص خپله دنده ګرځوو او ترڅنګ به يې بې له ناغې د قرآن کريم تلاوت هم کوو، که هغه يوه يا دوه پاڼې هم وي.

خو که اوس هم د غفلت له خوبه بيدار نه شو، نو وروسته به د پښېمانۍ نه پرته نور هېڅ هم په لاس کې رانه شي.

راځئ، چې دعا وکړو:

اې الله تعالی! زموږ په زړونو کې د قرآن کريم او خصوصاً د سورة الاخلاص مينه پيداکړې او موږ ته يې د لوستو توفيق راپه برخه کړې او د دې په برکت او بدل کې موږ ته جنة الفردوس کې لوړ مقام په برخه کړې.

---

صحيح البخاري(۲/ ۱۸۹).

نور د کومې خبرې څنګه پاتې شو؟ راځئ همدا اوس په دې عمل پیل وکړو او د زړه له اخلاصه یې ولولو.

(قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ﴿١﴾ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ﴿٢﴾ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ﴿٣﴾ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ ﴿٤﴾ سورة الاخلاص)

ژباړه:((ووایه هغه الله دی، یوازې یو. الله هېڅا ته اړ نه دی او ټول هغه ته اړ دي. نه هغه څوك زېږولی دی او نه هغه زېږول شوی دی. او هېڅوك د هغه سیال نشته.))

## د جنت ضمانت

کوم سړی چې د سحر په وخت کې لاندې لیکل شوې دعا روزمره لولي، نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم د دې سړي لاس نیولو سره جنت ته د داخلېدو ضمانت کړی دی:

(عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «يَا أَبَا سَعِيدٍ، مَنْ رَضِيَ بِاللهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا، وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ»، فَعَجِبَ لَهَا أَبُو سَعِيدٍ، فَقَالَ: أَعِدْهَا عَلَيَّ يَا رَسُولَ اللهِ، فَفَعَلَ، ثُمَّ قَالَ: «وَأُخْرَى يُرْفَعُ بِهَا الْعَبْدُ مِائَةَ دَرَجَةٍ فِي الْجَنَّةِ، مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ»، قَالَ: وَمَا هِيَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ:«الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ، الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ»)(١)

له ابو سعید الخدري رضی الله عنه څخه روایت دی، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ووېل: ای ابو سعیده! کوم سړی چې الله تعالی ومنې او د اسلام په دین پوی شي او محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د خپل پیغمبر په توګه په منلو راضي شي، نو د هغه دپاره د جنت فیصله شوې ده.

---

(١) صحیح مسلم(۳/۱۵۰۱).

ابوسعيدالخدري رضی الله عنه حيران شو، عرض يې وکړ: ای د الله تعالی رسوله صلی الله عليه وسلم! خپله خبره دويم ځل تکرار کړه؛ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم خپله خبره دويم ځل تکرار کړه.

دغه راز په يو بل حديث کې راځي، چې الفاظ يې په داسې ډول دي: وَعَنِ الْمُنَيْذِرِ صَاحِبِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَكَانَ يَكُونُ بِإِفْرِيقِيَّةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: " «مَنْ قَالَ إِذَا أَصْبَحَ: رَضِيتُ بِاللَّهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا، فَأَنَا الزَّعِيمُ لَآخُذَنَّ بِيَدِهِ حَتَّى أُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ» ".[1]

له منيذر رضی الله عنه څخه روايت دی، چې په افريقا کې اوسېدلو، دی وايي، ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه دا خبرې اورېدلي دي: "کوم سړی چې د سحر په وخت کې دا دعا (ژباړه: زه پر دې راضي يم چې الله تعالی پالونکی، اسلام دين او محمد صلی الله عليه وسلم پيغمبر دی.) ولولي، نو دغه سړي ته د دې خبرې ضمانت ورکوم، چې د لاسه به يې نيسم او جنت ته به يې داخلوم."

## جنت کې د ماڼۍ ودانولو اسانه لار

کوم سړی چې بازار ته د داخلېدو په وخت کې يا وروسته دا دعا ولولي، نو الله تعالی به ورته په جنت کې يوه ماڼۍ (محل) جوړه کړي.

عن سالم بن عبدالله عن ابيه عن جده قال: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ دَخَلَ السُّوقَ، فَقَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ، وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، كَتَبَ اللَّهُ لَهُ أَلْفَ أَلْفِ حَسَنَةٍ، وَمَحَا عَنْهُ أَلْفَ أَلْفِ سَيِّئَةٍ، وَرَفَعَ لَهُ أَلْفَ أَلْفِ دَرَجَةٍ "[2]

---

[1] مجمع الزوائد ۱/ ۱۱۲.

[2] ترمذی، حدیث ۳۴۲۹.

سالم بن عبدالله، هغه له خپل پلاره او هغه بيا له خپل پلاره روايت کړی دی، هغه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي"کوم سړی چې په بازار کې دا دعا (لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ، وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ) ولولي، نو الله تعالی به د هغه په اعمالو کې زرګونه نېکۍ وليکي او زرګونه صغيره ګناهونه به يې معاف کړي او د هغه لپاره به جنت کې يوه مانۍ ودانه شي.

# له اودس وروسته دوه رکعاته

درنو لوستونکو!

الله رب العزت د خپلو بنده ګانو لپاره بانې لټوي، خو که د دې باوجود موږ خپله ښنه پرې ونه کړای شوه، نو دا به ډېره د بدبختۍ خبره وي.

دلته يو داسې عمل تاسې لپاره وړاندې کوو، چې کوم سړي اودس کولو نه وروسته ياده دعا ولولي او دوه رکعاته (تحية الوضوء) لمونځ وکړي، الله تعالی به يې په خپل رحمت سره وبښي.

لږ غور وکړئ، څومره ارزانه سودا ده، الله تعالی دې موږ ته د دې عمل ترسره کولو توفيق په برخه کړي.

(عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: كَانَتْ عَلَيْنَا رِعَايَةُ الْإِبِلِ فَجَاءَتْ نَوْبَتِي فَرَوَّحْتُهَا بِعَشِيٍّ فَأَدْرَكْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمًا يُحَدِّثُ النَّاسَ فَأَدْرَكْتُ مِنْ قَوْلِهِ: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهُ، ثُمَّ يَقُومُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، مُقْبِلٌ عَلَيْهِمَا بِقَلْبِهِ وَوَجْهِهِ، إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ» قَالَ فَقُلْتُ: مَا أَجْوَدَ هَذِهِ فَإِذَا قَائِلٌ بَيْنَ يَدَيَّ يَقُولُ: الَّتِي قَبْلَهَا أَجْوَدُ فَنَظَرْتُ فَإِذَا عُمَرُ قَالَ: إِنِّي قَدْ رَأَيْتُكَ جِئْتَ آنِفًا، قَالَ: " مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُبْلِغُ – أَوْ فَيُسْبِغُ

- الْوَضُوءَ ثُمَّ يَقُولُ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ".)[۱]

له عقبه بن عامر رضی الله عنه څخه روایت دی، چې د حدیث مفهوم داسې دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویل: کوم سړی چې په ښه طریقې او پوره توجو سره اودس وکړي، الله تعالی به د هغه لپاره د جنت پرېکړه وکړي.

عقبه بن عامر رضی الله عنه وایي، ما عرض وکړ: دا خو ډېره د کار خبره ده، له شا لوري اواز راغی: له دې نه وړاندې یې کومه خبره کړې وه، هغه له دې نه هم زیات اهمه او ضروري ده.

ما شاته ولید، نو هغه عمر فاروق رضی الله عنه و، ویې ویل: ما ته ولیدې، چې اوس راغلی یې ستا د راتلو نه مخکې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وویل: کوم سړی چې په ښه شان سره اودس وکړي او بیا دا دعا (أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ) ولولي، نو د هغه لپاره به د جنت اته واړه دروازې پرانیستل شي، بیا د هغه خوښه ده، چې په کومې دروازې دننه کېږي.

د صحیح مسلم مشهور شرحه کوونکی علامه نووي رحمه الله وایي: که له همدې دعا سره چې په ترمذي کې روایت شوې، دعا هم ولوستل شي، نو ډېره به غوره وي.

او هغه دعا دا ده:(اللهم اجعلني من التوابين واجعلني من المتطهرين.)[۲]

## رښتینې زړه سره د اذان ځواب ورکوونکی به جنت ته داخل شي

قدرمنو لوستونکو! اوس موږ تاسې ته یو ډېر اسان عمل درښایو، چې هغه خپل معمول وګرځوئ، نو تاسې خپل نوم د جنت په حقدارو کې لیکلی شئ او هغه اسان عمل د اذان ځواب ورکول دي.

---

[۱] صحیح مسلم (۱/ ۲۰۹).
[۲] شرح النووي ۱۲۷/۲.

خپله فکر وکړئ، چې دا څومره اسانه عمل دی، خو فضیلت یې ډېر زیات دی.

څکه دا د اذکارو په اعمالو پورې تړلی دی، کوم چې د اسلام د دین لپاره بنیادي حیثیت لري، څکه په دې کې د الله تعالی د وحدانیت بیان دی او د گواهی اقرار هم.

دغه دواړه داسې اعمال دي، چې له دې نه پرته د اسلام دین نیمگړی دی، د اذان په جامعیت باندې بیان کولو سره عالمانو لیکلي دي، چې په اذان کې د رب العزت د فرمانبرداری او امر منلو اظهار هم دی. او د (لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ) اقرار هم دی، په اذان کې د لمانځه لپاره د دعوت بلنه ده، چې د دنیا او اخرت د کامیابی ذریعه ده او په دې کې د حشر د سزا او جزا ذکر هم دی.

لنډه دا چې په اذان کې د ټولو عقایدو بیان دی، کوم چې دین لپاره بنیادي حیثیت لري، نو کوم سړی چې دې ټولو خبرو ته په زړه کې ځای ورکړي او د دې مطابق ژوند تېر کړي، نو حقیقي اسلامیت به یې په برخه شي او د الله تعالی د رحمت قوي امید دی، چې الله تعالی به یې جنت ته داخل کړي. نو ایا داسې څوک شته دی، چې د دې فضیلت ترلاسه کولو ته غاړه ورکړي؟ او اینده د اذان په وخت کې د بې ځایه خبرو پرځای د اذان ځواب ورکولو عزم وکړئ.

الله تعالی ته د دعا لاسونه لپه کوو، چې موږ ته د دې عمل د پوره کولو توفیق را په برخه کړي. آمین.

(اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ، فَقَالَ أَحَدُكُمْ: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ، ثُمَّ قَالَ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، قَالَ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، ثُمَّ قَالَ: أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ قَالَ: أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، ثُمَّ قَالَ: حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، قَالَ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ، ثُمَّ قَالَ: حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، قَالَ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ، ثُمَّ قَالَ: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ، قَالَ: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ، ثُمَّ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مِنْ

CamScanner

قَلْبِهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ ")[1]

ياني: سنت طريقه دا ده، چې د اذان اورېدونکی به هغه کلیمات وایي، کوم چې مؤذن یې وایي، یوازې د (حَيَّ عَلَى الصَّلاةِ) او (حَيَّ عَلَى الْفَلاحِ) خواب کې به (لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إلاَّ بِاللّهِ).[2] او چا چې دا الفاظ د زړه له تله تکرار کړه، نو هغه شخص به جنت ته داخل شي.

## د صبر بدله

خوږو لوستونکو! صبر هم د الله تعالی لخوا ستر فضیلت لري او صبر کوونکي خلک د الله تعالی ډېر خوښېږي.

خصوصاً کله چې د چا پلار، ورور، زوی او یا کوم نېږدې خپلوان وفات شي او هغه د صبر لمن دلاسه ورنه کړي او دا فیصله د الله تعالی په رضا پرېښودلو سره دعا ولولي، چې:

(إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّـآ إِلَيْهِ رَاجِعونَ﴿١٥٦﴾ سورة البقرة)

که یو ځلې یې هم وواېې، نو الله تعالی خپلو ملایکو ته امر وکړي، زما پلاني بنده لپاره په جنت کې ماڼۍ جوړه کړئ او د هغې نوم "بیت الحمد" کې کېږدئ او داسې به ولې نه کېږي، چې د دواړو جهانونو سردار محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ویلي دي: (افضل الدعاء الحمدلله...) یانې تر ټولو غوره دعا (الحمدلله) ده.

نو کوم سړی چې تر ټولو غوره عمل ترسره کړي، د هغې مېوه به هم غوره مومي او دا خو مشهور متل دی: (څه چې کرې هغه به رېبې).

الله تعالی وایي:

(إِنَّمَا يُوَفَّى ٱلصَّٰبِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ﴿١٠﴾ سورة الزمر)

ژباړه: ((صبر کوونکو ته به خپل اجر بې حسابه ورکړ شي.))

---

[1] صحیح مسلم (۱/ ۲۸۹).

۲. مسند الشافعي ترتیب السندي - (۱/ ۲۰۴)

بل ایت کې راځي:(وَبَشِّرِ ٱلصَّابِرِينَ﴿١٥٥﴾ ٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَابَتۡهُم مُّصِيبَةٌ قَالُوٓاْ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيۡهِ رَاجِعُونَ﴿١٥٦﴾سورة البقرة)

ژباړه:((ای پیغمبره! هغو کسانو ته زېری ورکړه، چې په دې حالاتو کې صبر وکړي. او د مصیبت راتلو په وخت کې ووايي چې:'مونږ د الله يو او د هماغه الله لوري ته زمونږ ورګرځېدل دي'.))

په حديث شريف کې هم راځي، چې:(عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِذَا مَاتَ وَلَدُ العَبْدِ قَالَ اللَّهُ لِمَلَائِكَتِهِ: قَبَضْتُمْ وَلَدَ عَبْدِي، فَيَقُولُونَ: نَعَمْ، فَيَقُولُ: قَبَضْتُمْ ثَمَرَةَ فُؤَادِهِ، فَيَقُولُونَ: نَعَمْ، فَيَقُولُ: مَاذَا قَالَ عَبْدِي؟ فَيَقُولُونَ: حَمِدَكَ وَاسْتَرْجَعَ، فَيَقُولُ اللَّهُ: ابْنُوا لِعَبْدِي بَيْتًا فِي الجَنَّةِ، وَسَمُّوهُ بَيْتَ الحَمْدِ.)[1]

له ابو موسى رضی الله عنه څخه روايت دی او مفهوم يې داسې دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي: کله چې د چا زوی وفات شي، نو الله تعالی ملايکو ته وايي، تاسې زما د بنده د زوی روح قبض کړ؟ نو ملايک به ورته په اثبات کې ځواب ورکړي، هو... الله تعالی به ورته ووايي: تا د ده نه د زړه ټوټه جدا کړه؟

ملايک به ځواب ورکولو سره ورته وايي: هو... مونږ همداسې وکړل، الله تعالی به پوښتنه ترې وکړي، زما بنده پرې څه غبرګون وښود؟

ملايک به ځواب ورکړي، هغه ستا ستاينه وکړه يانې (إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيۡهِ رَاجِعونَ) يې وويل.

الله تعالی به ورته وايي: زما بنده لپاره په جنت کې د بيت الحمد په نوم يوه مانۍ جوړه کړئ.

---

[1] سنن الترمذي ت بشار (۲/۳۳۲).

بل ځای کې راځي، چې:(عَنْ أبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى: مَا لِعَبْدِي الْمُؤْمِنِ عِنْدِي جَزَاءٌ، إِذَا قَبَضْتُ صَفِيَّهُ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا ثُمَّ احْتَسَبَهُ، إِلَّا الْجَنَّةُ")(۱)

له ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي، چې مفهوم يې داسې دی: الله تعالی وايي"زما د يو داسې مؤمن بنده د جنت نه پرته بله کومه بدله نه شي کېدلی، چې کله د هغه نه د خپلې خوښې شي، واخيستل شي او هغه پرې صبر وکړي او د ثواب اميد ولري."

په حديث کې د "احتسب" کليمه پر مصيبت صبر کولو سره د اجرا اميد ساتل دي.

او د "البدار الی طلب الاجر" کليمې استعمالېږي، لکه څرنګه چې د حضرت عمر رضی الله عنه په حديث کې استعمال شوی دی.

(أَيُّها الناسُ، احْتَسِبُوا أَعْمالَكم، فإنَّ مَن احْتَسَبَ عَمَلَه، كُتِبَ لَهُ أَجْرُ عَمَلِه وأَجْرُ حِسْبَتِه.)(۲)

د دې اثر مطلب دا دی، چې:"ای خلکو! په خپلو اعمالو باندې اميد ساتئ او چې کوم يو سړی داسې وکړي، نو الله تعالی به دوه برابره اجر پرې ولوروي."

---

(۱) صحيح البخاري(۸/۹۰).
(۲) لسان العرب(۱/۳۱۵).

# سیدالاستغفار او د هغې فضیلت

گرانو لوستونکو!

اوس مو بۍ تاسي ته یو داسي عمل ښایو، چې ډېر لنډ او اسانه دی؛ خو فضیلت یې ډېر زیات دی.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم د یو داسي سړي لپاره چې څوک سحر او ماښام د دې اهتمام کوي، د جنت د خوشخبری زېری ورکړی دی، نو ایا د دومره اسانه عمل په بدل کې د جنت سودا خو به گرانه نه وي؟!

نو ای په گناهونو کې مست انسانه! لږې سترگې وغړوه او د ژوند دا یو څو شېبې غنیمت وگڼه او گټه ترې واخله، په یو حالت کې هم د دې ارزښتناکه او بې بها عمل نه غافله مه شئ.

یوازې د دنیا په گټو کې مه ډوبېږه؛ بلکې لږه خو د اخېرت لپاره هم ذخیره جوړه کړه.

فکر وکړه! گنې د ژوند د ماښام په تیاره غوني کې وخت نه لگي، څه وخت هم ستا د ژوند لمر ډوبېدلی شي او بیا به د وخت په تېرېدو سره لاسونه مروړې او افسوسونه به کوې.

اوس؛ نو دغه جملې هم درسره ولولئ: (عَن شَدَّادُ بْنُ أَوْسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "سَيِّدُ الِاسْتِغْفَارِ أَنْ تَقُولَ: اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لاَ إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي، فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ" قَالَ: «وَمَنْ قَالَهَا مِنَ النَّهَارِ مُوقِنًا بِهَا، فَمَاتَ مِنْ يَوْمِهِ قَبْلَ أَنْ يُمْسِيَ، فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الجَنَّةِ، وَمَنْ قَالَهَا مِنَ اللَّيْلِ وَهُوَ مُوقِنٌ بِهَا، فَمَاتَ قَبْلَ أَنْ يُصْبِحَ، فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الجَنَّةِ»)[1]

---

[1] صحیح البخاري (۸/ ۲۷).

CamScanner

له شداد بن اوس رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: سیدالاستغفار دا دی" ژباړه: ای الله! ته زما رب یې، بې له تانه بل د بندګی حقدار نشته، تا زه پیدا کړی یم او زه دې بنده یم او زه د خپلې وس مطابق ستا په عهد او ژمنه ولاړ یم، زه په تاسره د خپلو کړو شر نه پناه غواړم، زه ستا په هغه نعمت اقرار کوم، چې ماته دې راکړی او په خپله ګناه اعتراف کوم؛ نو ماته بښنه وکړې، ځکه بې له تا هېڅوک ګناهونه نشي-بښلی."

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: کوم سړی چې دا سحر وختي د پوره یقین سره ووایي، که د ماښام پورې مړ شو، نو سیده به جنت ته ورومي او که کوم سړی دا ماښام په وخت ولوستل او سحر پورې وفات شو، نو هغه به هم سیده جنت ته لاړ شي.

**د استغفار نورې ګټې:** لکه څرنګه چې تاسې ته معلومه ده، چې استغفار کوونکو ته ربنتیني پیغمبر صلی الله علیه وسلم په خپلې مبارکې ژبې د جنت خوشخبري ورکړې، دا خو یې د اخرت ګټه شوه، له دې نه پرته د استغفار دنیوي ګټې هم ډېرې زیاتې دي، چې په هغو کې یو څه الله تعالی د نوح علیه السلام په یو حکایت کې هم بیان کړي دي.

الله تعالی وایي:(فَقُلْتُ ٱسْتَغْفِرُواْ رَبَّكُمْ إِنَّهُۥ كَانَ غَفَّـاراً﴿١٠﴾ يُرْسِـلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَاراً ﴿١١﴾ وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَل لَّكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَل لَّكُمْ أَنْهَاراً ﴿١٢﴾ سورة نوح)

ژباړه:((ما وویل له خپل رب نه بښنه وغواړئ، بېشکه چې هغه خورا ډېر بښونکی دی. هغه به پر تاسې له آسمانه ښه اورښتونه وکړي. تاسې ته به مالونه او اولادونه درپه برخه کړي، ستاسې لپاره به باغونه پیداکړي او ستاسې لپاره به ویالې وبهوي.))

ملا علي القاري رحمه الله د پورته ایت په تشریح کې لیکلي، د دې ایت څخه څرګندیږي، چې د استغفار په واسطه د هر څه ترلاسه کول ممکن دي

او د دې په تایید کې هغه د حضرت حسن بصري رحمه الله یوه پېښه یې نقل کړې ده.

هغه پېښه څه داسې ده، چې یو سړی حسن بصري رحمه الله ته راغی او د وچکالۍ څخه یې شکایت ورته وکړ، چې د دې څه حل راته وښایه: حسن بصري رحمه الله ورته وویل:استغفار وایه.

بل سړی ورته راغلی و، هغه د تنګلاسی شکایت کړی و، نو حسن بصري رحمه الله ورته د استغفار ویلو امر وکړ. دریم سړی راغلی و، هغه ورته د دعا کولو وړاندیز کړی و، چې الله تعالی به راته د اولاد نعمت راکړي، نو درانه عالم ورته وویل، چې استغفار وایه.

بل سړي ورته راغلی و، هغه د خپل باغ د وچېدو شکایت کړی، نو هغه ته یې هم د استغفار امر کړی و.

په مجلس کې ناستو خلکو پوښتنه کړې وه، تاته خو بېلابېل خلک راغلل او بېلابېلې پرېشانۍ یې درلودې او تا هر یو ته د استغفار امر وکړ. نو حسن بصري رحمه الله ورته په ځواب کې وویل: دا مې د قرآن کریم نه د نوح علیه السلام د حکایت نه را اخیستي و.

علامه ابن تیمیه رحمه الله وايي: ما ته چې کله هم په یوې خبرې کې ستونزه پیدا شوې ده او په سمه توګه پرې پوی شوی نه یم، نو ما کم از کم یو زر (۱۰۰۰) ځلې استغفار لوستلی، نو بیا پکې ماته اساني راغلې ده او پرېشاني مې ختمه شوې ده او دغه عمل راته په یو ځای کې هم خنډ نه دی جوړ شوی، که په جومات کې وم، که په بازار کې وم، خپل مقصد مې پوره کولو.[1]

[1] ابن تیمیه بطل الاصلاح الدیني ۱۷.

# له فرض لمونځ وروسته د اية الكرسي لوستل

کوم سړی چې د فرض لمونځونو وروسته اية الكرسي خپل معمول وګرځوي، نو د هغه او د جنت ترمنځه به د مرګ نه پرته بل شی خنډ نه وي.

علامه ابن تيميه رحمه الله به د دې ډېر اهتمام کولو سره فرمايلي، چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمان مبارک دی:(عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ قَرَأَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنْ دُخُولِ الْجَنَّةِ إِلَّا أَنْ يَمُوتَ»)[1]

له ابو امامه رضى الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي دي: کوم سړی چې د هر فرض لمانځه نه وروسته اية الكرسي لولي، نو د هغه او د جنت ترمنځه به پرته له مرګه بل شی خنډ نه وي.

(ٱللَّهُ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْحَىُّ ٱلْقَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُۥ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ مَن ذَا ٱلَّذِى يَشْفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَىْءٍ مِّنْ عِلْمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفْظُهُمَا وَهُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْعَظِيمُ﴿۲۵۵﴾ سورة البقرة)

((له الله، هغه ژوندي ابدي ذات نه پرته چې ټول کاينات يې تنظيم کړي دي بل هېڅ معبود نشته؛ هغه نه ويده کېږي او نه پرکالي پرې راځي، په اسمانونو او ځمکه کې چې هر څه دي د هغه دي، څوک دی چې د هغه په وړاندې د هغه له اجازې پرته سپارښت وکړای شي؟ څه چې د بندګانو په وړاندې دي پر هغو هم خبر دی او څه چې له هغو نه پټ دي، پر هغو هم خبر دی او د هغه له معلوماتو نه هېڅ شی د هغوی په ادراک کې نشي ايسارېدای؛ مګر دا چې د کوم شي علم ورکول هغه په خپله وغواړي، د هغه حکومت پر اسمانونو او ځمکه خور شوی دی او د هغو ساتنه د هغه لپاره کوم ستومانوونکی کار نه دی، يوازې هماغه يو لوی او لوړ ذات دی.))

---

[1] المعجم الأوسط(۸/ ۹۳).

# د شهید مقام

بې شکه چې د شهیدانو له الله تعالی سره ډېر ستر او لوړ مقام دی، لکه څرنګه چې د صحیح مسلم په یو اوږد حدیث کې راغلي دي:

(أَرْوَاحُهُمْ فِي جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ، لَهَا قَنَادِيلُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ، تَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شَاءَتْ...)[1]

یانې: د شهیدانو روحونه به الله تعالی په شنو مرغانو کې واچوي او د هغوی لپاره الله تعالی د عرش سره پنجرې لګولې دي او هغوی به جنت کې وي، چې کوم وغواړي الوتلی او ګرځېدلی شي....

نو د دې فضیلت اندازه له دې خبرې څخه هم لګولی شئ، چې الله رب العزت یې په قرآن کریم کې بې شانه بیان کړی دی، شاید که د بل شي په اړه یې دومره ویلي دي:(وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتًا بَلْ أَحْيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴿١٦٩﴾ فَرِحِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِٱلَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُواْ بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١٧٠﴾ يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٧١﴾ سورة ال عمران)

ژباړه:((کوم کسان چې د الله په لار کې وژل شوي دي، هغوی مړه مه ګڼئ، هغوی خو په حقیقت کې ژوندي دي، د خپل رب په وړاندې روزي مومي. څه چې الله د خپلې لورینې له مخې هغو ته ورکړي دي، پر هغه خوښ او سوکاله دي او ډاډه خوشحاله دي، په دې چې کوم مؤمنان له هغو وروسته په نړۍ کې پاتې دي او لاتراوسه پورې هلته نه دي رسېدلي، د هغو لپاره هم څه وېره او کړاو نشته. هغوی د الله په لورینه او د هغه په مهربانی

[1] صحیح مسلم(۳/ ۱۵۰۲).

خوشحاله او سوکاله دي او هغو ته څرګنده شوې ده، چې الله د مؤمنانو اجر نه ضایع کوي.))

نو زما ګرانو ملګرو!

کوم سړی چې د زړه له اخلاصه او ښه نیت سره له الله تعالی څخه د شهادت دعا وغواړي، نو الله تعالی به د قیامت په ورځ د شهیدانو مرتبه پرې لوروي، که هغه د بسترې په مرګ هم مړ شوی وي.

څکه دا صحیح حدیث دی، چې:(إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ)[1]

یانې: د ټولو کړنو او اعمالو دارو مدار په نیتونو باندې دی.

په یو حدیث قدسي کې هم راځي، چې:(أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي)[2]

یانې: الله پاک وایي زه له خپلو بنده ګانو سره داسې معامله کوم، لکه څنګه چې له ما څخه امید لري.

نو لږ فکر وکړئ! ایا له دې نه ارزانه بله سودا کېدای شي؟ چې یوازې د الله تعالی په دربار کې ربښتیني زړه سره دعا وغوښتل شي، چې پرې مونږ ته د شهادت په څېر مقام او فضیلت راکول کېږي.

نو الله تعالی د دومره مهربانۍ باوجود بیا هم یو څوک د ځان لپاره دعا نه شي کولی، نو د داسې سړي په سستۍ او غفلت باندې د افسوس کولو نه پرته نورڅه ویلی شو.

له زړه څخه د شهادت دعا غوښتل ضرور قبلېږي، لکه څنګه چې په حدیث شریف کې راغلي دي:

(عَن سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ، حَدَّثَهُ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ سَأَلَ اللهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ، بَلَّغَهُ اللهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ، وَإِنْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ»)[3]

---

[1] صحیح البخاري(۱/ ۲).

[2] صحیح البخاري(۹/ ۱۴۵).

[3] صحیح مسلم(۳/ ۱۵۱۷).

CamScanner

له سهيل بن حنيف رضی الله عنه څخه، هغه له پلاره او هغه يې له نيکه څخه روايت کړی دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي:"کوم سړی چې د رښتيني زړه سره د الله تعالی په حضور کې د شهادت دعا وغواړي، نو هغه ته به د شهادت مرتبه په نصيب شي، که څرنه هغه په بستره کې هم مړ شوی وي."

بل حديث کې راځي، چې:

(عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ طَلَبَ الشَّهَادَةَ صَادِقًا، أُعْطِيَهَا، وَلَوْ لَمْ تُصِبْهُ»)(۱)

له انس بن مالک رضی الله عنه څخه روايت دی، دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي:"کوم سړی چې د زړه له اخلاصه د شهادت دعا وغوښتله، الله تعالی به يې د شهادت په مرتبې مقرر کړي، اګر که هغه ته د شهادت مرګ نصيب شوی هم نه وي."

عالمان وايي، چې له دې حديث څخه معلومېږي، چې په سړي د خپل نيت مطابق دغه مرتبه لورول کېږي او چې کوم سړی د دې نېکۍ عزم وکړي او په څه وجه داسې هم ونه کړي، نو په دې ايت هم دومره اجر ورته ورکول کېږي، لکه څومره چې په هغه کار باندې ورکول کېږي.

علامه نووي رحمه الله وايي: کوم سړی چې په رښتيني زړه سره د شهادت دعا وغواړي، نو الله تعالی به ورته د شهادت مرتبه په نصيب کړي، که هغه په بستره کې هم مړ شوی وي، نو په دغه درج شوو احاديثو کې د شهادت دعا د غوښتنې او ښېګنې ترغيب تر سترګو کېږي.

### د عمر فاروق رضی الله عنه شهادت په مدينه کې د وفات کېدو دعا کول

عمر فاروق رضی الله عنه په دې الفاظو سره ځان لپاره د شهادت دعا کړې وه: (عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ قَالَ: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ شَهَادَةً فِي سَبِيلِكَ فِي مَدِينَةِ رَسُولِكَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ»)(۱)

---

(۱) صحيح مسلم(۳/ ۱۵۱۷).

معمر له هشام بن عروه او هغه له پلاره روایت کړی دی، چې عمر بن الخطاب رضی الله عنه وویل: "ای الله تعالی زه له تا نه ستا په لاره کې د شهادت او ستا د خوږ نبي صلی الله علیه وسلم په ښار مدینه کې یې سوال کوم."

نو هغه ستر صحابي د زړه له اخلاصه ځان لپاره دعا کړې وه، الله تعالی یې دعا قبوله کړه او په مدینه منوره کې ورته د شهادت سپېڅلی مقام په برخه شو او نه یوازې دا؛ بلکې د هغه کفن دفن هم د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ترڅنګ شوی دی.

نو راځئ!! چې موږ هم په رښتیني زړه سره د الله تعالی په حضور کې د شهادت دعا وکړو، د الله تعالی نه خو کوم راز پټ نه دی، کېدای شي چې موږ ته هم دغه فضیلت را په برخه کړي، نو د رښتیني زړه سره دا دعا کوئ او د خپل ژوند معمول یې وګرځوئ:

(اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ شَهَادَةً فِي سَبِيلِكَ، وَوَفَاةً بِبَلَدِ رَسُولِكَ)[۲]

## جنتي خويونه

دوه عادتونه الله تعالی ته او ګران پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته ډېر خوښ دي او نبي کریم صلی الله علیه وسلم یې خپل امت ته د دې ډېر زیات ترغیب ورکړی دی او د دې عمل کوونکو ته یې د جنت زېری هم ورکړی دی. (هُمَا يَسِيرٌ، وَمَنْ يَعْمَلُ بِهِمَا قَلِيلٌ) یانې: دا ډېر اسانه دي، خو پرې عمل کوونکي ډېر کم دي.

ځکه چې انسان کله هم د یوې نېکۍ اراده وکړي، نو شیطان ورته مخې ته خنډونه جوړوي او د هغه د ایسارولو کوښښ کوي.

دغه شان چې کله انسان د خوب لپاره ځي، نو شیطان پوره هڅه کوي، چې د دعا نه پرته ویده شي.

---

[۱] مصنف عبد الرزاق الصنعاني (۵/ ۲۶۱).
[۲] موطأ مالك ت عبد الباقي (۲/ ۴۶۲).

همداسې که یو څوک د لمونځ د اداکولو اراده وکړي، نو شیطان ورته رنګارنګ کارونه مخې ته کوي، چې پلانۍ پلانۍ کار هم کول غواړي، د ببلګې په توګه تلویزون کې سریال پیلېږي، په راډیو کې سندریزه خپرونه پیل کېږي او نور.... .

نو شیطان غواړي، چې په یوه نه یوې لارې سره دې د لمونځ کولو نه ایسار کړي، بس کوم سړی چې د شیطان په دام کې راګیر شي، نو دغسې د خیر له کارونو څخه محروم شي او پرته له کوم عذر نه د نېکۍ د کارونو نه په شا او وروسته شي.

په یاد ولرئ! دا د شیطان جالونه او مکرونه دي او په عامه توګه هغه سړي پکې نښلي، چې له الله تعالی سره یې قوي اړیکه نه وي.

خو چې کوم مخلص خلک وي، هغوی کله هم د شیطان په دام کې نه راځي او د الله تعالی د یاد او عباداتو څخه او هم د نېکۍ د کارونو څخه نه شاته کېږي. دغسې خلک الله تعالی د خپل عبادت لپاره غوره کړی دی او د شیطان د مکرونو نه یې خوندي ساتي، نو ځکه خو موږ له الله تعالی څخه د نېکو اعمالو توفیق غواړو.

په یاد ولرئ! چې کله تاسې یو نېک کار پیل کوئ، نو په ابتدا کې به درته یو څه ناڅه ستونزمن وي، خو که استقامت مو د لاسه ورنه کړ او ثابت قدمه پاتې شوئ او خپلې ارادې ته د عمل جامه واغوندئ، نو ورو ورو به مو عادت وګرځي.

بیا به د دې نه پرته درته سکون نه راځي، نو سستي مه کوئ او نېک عادتونه په ځان کې راولئ، چې د سبا ورځې پښېمانۍ نه پرې بچ شئ.

نو د دومره اوږدې توصیې نه وروسته چې موږ تاسې ته وړاندې کول غواړو، د دې د پوره کولو لپاره به تاسې ته یوازې یوه دقیقه وخت پکار وي او د خپل څلورویشت (۲٤) ساعته ژوند چې ټول څوارلس سوه څلوېښت (۱٤٤۰) دقیقې کېږي، نو له دې نه ورته یوه دقیقه وخت وباسئ، امید دی

چې ستاسې د اخرت جوړونې لپاره به اهم کردار ادا کړي او هغه دوه ښکلي عادتونه په حدیث کې داسې راغلي دي:

له عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي:دوه داسې خویونه او عادتونه دي، چې سانته نه کوي پر دې مسلمان، مګر جنت ته به داخلېږي، دا اسانه دي، او پر دې عمل کوونکي لږ دي، له هر لمانځه وروسته به لس ځلې تسبیح (سبحان الله) وايي او لس ځلې به حمد (الحمدلله) وايي، لس ځلې به الله اکبر وايي، چې دا (په پنځه وخته لمونځ کې) یونیم سل ځلې په ژبه راځي او (۱۵۰۰) ځلې په تله کې راځي او کله چې ویده کېږي، نو څلوردېش ځلې دې (الله اکبر). درې دېرش ځلې دې (الحمدلله) او درې دېرش ځلې به (سبحان الله) وايي، چې دا سل ځلې په ژبه راځي او زر (۱۰۰۰) ځلې د میزان په تله کې.

عبدالله بن عمر رضی الله عنهما زیاتوي، ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ولید، چې په خپل لاس یې شمېرل کول. صحابه وو رضی الله عنهم پوښتنه وکړه: ای رسول الله صلی الله علیه وسلم! څنګه دا اسانه دي او عمل کوونکي پرې لږ دي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: د خوب پرمهال ورته شیطان راځي او خوب درولي مخکې له دې چې دا ووايي او د لمانځه پرمهال ورته هم (شیطان) راځي او د دې له ویلو مخکې ورته د هغه حاجتونه او ضرورتونه یادوي.[1]

---

[1] سنن أبي داود (۴/ ۳۱۲).

# عقلمند څوک دی؟!

عقلمند هغه څوک دی، چې چاته الله تعالی په خپل کتاب کې اشاره کړې ده او دا هغه څوک دی، چې په هر حال کې د الله تعالی په یاد او ذکر بوخت وي او هېڅ وخت هم د هغو زړونه د الله تعالی د یاد څخه نه غافله کېږي.

لکه څنګه چې الله تعالی د هغو د صفتونو یادونه کړې ده:(ٱلَّذِينَ يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَاماً وَقُعُوداً وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ﴿۱۹۱﴾سورة ال عمران)

ژباړه:(( (هغه کسان) چې په ولاړې، ناستې او ملاستې هر حالت کې الله تعالی يادوي.))

په دې ایت کې الله تعالی د دې حالتونو یادونه کړې ده، چې یو یې د ملاستې دی، کوم سړی چې د ویده کېدو په وخت کې اړخ بدلوي او دعا لوستل خپل معمول وګرځوي، نو له الله تعالی قوي امید دی، چې په جنت کې به یې داخل کړي.

نو کله چې تاسې د خوب پرمهال په څنګ اوړئ، نو دا دعا لولئ:(اللَّهُمَّ وَجَّهْتُ وَجْهِي إِلَيْكَ وَأَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ رَهْبَةً وَرَغْبَةً إِلَيْكَ لَا مَنْجَا ولا ملجأ منك إلا إليك آمنت بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ وَنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ)[1]

ژباړه: ای الله! ما خپل مخ تاته مخامخ کړی، خپل ځان مې تا ته سپارلی دی، په مینه او وېره مې تاته پناه دروړې، له تا پرته بل ځای د خلاصي او ځای د پناهی نه شته، ستا په رالېږلي کتاب او پېغمبر مې ایمان راوړی دی.

---

[1] الأدب المفرد بالتعليقات(ص: ۲۸۸).

# د سحر او ماښام له لمانځه وروسته دعا

قدرمنو لوستونکو! د دنیا ژوند د یو څو ورځو دی، د دې نه وروسته به هر یو له دې فاني دنیا نه روانېږو، یو هم داسې څوک به پیدا نه شي، چې له مرگه بچ پاتې شي.

نو دې لپاره عقلمند هغه څوک دی، چې یوازې د دنیا په فکر کې ډوب نه شي، بلکې یو څه د اخرت لپاره هم تیاری وکړي، ځکه د مرگ نه وروسته په دوه ځایونو کې به یوځای یقیني وي (جنت یا دوزخ) د دوزخ نه د بچ کېدو لپاره او د جنت ترلاسه کولو لپاره که موږ د غفلت او سستی له امله نور څه نه شو کولی، نو کم از کم سحر او ماښام دعا خو کولای شو.

زموږ گران او خوږ پیغمبر محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په خپله هم د دوزخ د اور نه پناه غوښتله او موږ ته یې هم د دې ترغیب راکړی دی.

کومه دعا چې تاسې ته وړاندې کول غواړو، دا ضرور لولئ، حدیث کې راځي، چې: (اللَّهُمَّ أَجِرْنِى مِنَ النَّارِ.)[1]

ژباړه: ((ای الله تعالی ماته له اوره پناه راکړې.))

یا داسې: (اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ اللَّهُمَّ أَجِرْنِي مِنْ النَّارِ.)

ژباړه: ((ای الله تعالی! زه له تانه سوال کوم د جنت، ای الله تعالی! پناهې راکړې له اور نه.))

**گټه**: مسلم بن حارث رضي الله تعالی عنه د خپل پلار نه روایت کوي: رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته ویلي و، کله چې دې د سبا لمونځ وکړ، نو وړاندې له خبرو کولو نه خلکو سره[2] داسې ووایه: (اللَّهُمَّ أَجِرْنِي مِنْ النَّارِ) که ته په دغه ورځ مړ شوې، نو الله تعالی به له اور نه نجات درکړي او کله چې د ماښام لمونځ وکړې، نو بیا خلکو سره د خبرو کولو نه مخکې اووه

---

۱. سنن أبی داود-ن-(۴/ ۴۸۱)

۲. مونځ په رڼا د احادیثو کې، علامه عبدالسلام

خلې داسې ووايه:(اللّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ اللّهُمَّ أَجِرْنِي مِنْ النَّارِ).

**يادونه**: که چېرې په دې شپه مړ شوې، نو الله تعالی به د دوزخ له اور نه نجات درکړي.[1]

او په بل حديث کې راځي، چې: (قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ، فُتِحَتْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ، وَاسْتُجِيبَ الدُّعَاءُ، فَإِذَا انْصَرَفَ الْمُنْصَرِفُ مِنَ الصَّلَاةِ، وَلَمْ يَقُلْ: اللهُمَّ أَجِرْنِي مِنَ النَّارِ، وَأَدْخِلْنِي الْجَنَّةَ، وَزَوِّجْنِي مِنَ الْحُورِ الْعِينِ، قَالَتِ النَّارُ: يَا وَيْحَ هَذَا، أَعَجَزَ أَنْ يَسْتَجِيرَ اللهَ مِنْ جَهَنَّمَ؟ وَقَالَتِ الْجَنَّةُ: يَا وَيْحَ هَذَا، أَعَجَزَ أَنْ يَسْأَلَ اللهَ الْجَنَّةَ؟ وَقَالَتِ الْحُورُ الْعَيْنِ: يَا وَيْحَ هَذَا أَعَجَزَ أَنْ يَسْأَلَ اللهَ أَنْ يُزَوِّجَهُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ؟")[2]

ژباړه:((امامة الباهلي له خپل پلار څخه روايت کوي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي: کله چې لمونځ کوونکی ودرېږي، نو د اسمان دروازې پرانيستل شي او دعا قبلېږي؛ خو چې کله يو لمونځ کوونکی له لمانځه څخه فارغ شي او دا دعا ولولي:"اللهُمَّ أَجِرْنِي مِنَ النَّارِ، وَأَدْخِلْنِي الْجَنَّةَ، وَزَوِّجْنِي مِنَ الْحُورِ الْعِينِ[3]"، نو د دې دعا نه لوستونکي باندې دوزخ وايي: دا څومره بدبخته دی، چې دومره هم ترې ونه ويل شول، چې له الله تعالی نه د دوزخ پناه وغواړي او جنت وايي: څومره بدبخته دی دا، دومره هم يې هم ونه شو کړای، چې له الله تعالی څخه دعا وغواړي، چې د هغه واده دې له حورعين سره وکړي.))

---

۱ فاروقي، مولوي محمد غني، (سل دعاګانې)، ۱۳۹۳ المريز کال، څلورم چاپ، ګودر کتاب خپرنځی- جلال اباد.

۲ المعجم الکبير للطبراني (۱۰۲/۸).

۳. يانې: ای الله تعالی ما له اور څخه وژغوره او جنت ته مې داخل کړه او د حور عين سره زما واده وکړه.

# اساني دعاګانې

په شریعت کې په ښه خوړو او ښو جامو اغوستلو باندې هېڅ بندیز نشته دی.

خو د حلالو او حرامو تمیز کول ضروري دي او دا هم په ذهن کې یاد ولرئ، چې د دې مقصد به یوازې د الله تعالی د نعمتونو اظهار کول نه وي، ځکه چې تکبر او ریا الله تعالی نه خوښوي.

په لنډه توګه موږ تاسې ته یوه داسې نسخه بیانوو، چې د هغې په واسطه تاسې خپل خوراک او څښاک او اغوستونکي شیان د خپلو ګناهونو د بښنې سبب جوړولای شئ.

که تاسې داسې کول غواړئ، نو د خوراک کولو نه مخکې او وروسته دا دعاګانې له یاده مه باسئ: (بِسْمِ اللَّهِ.)

**یادونه**: د خوراک د پیل پر مهال همدومره الفاظ ثابت دي.

د خوراک د پیل کولو وخت کې، د پوره (بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ) ثبوت احادیثو کې نشته.

همدارنګه (بِسْمِ اللَّهِ وَعَلَى بَرَكَةِ اللَّهِ) هم حدیث کې نشته.

که بسم الله د خوراک پیل کې له چا نه هېره شي او د خوراک منځ کې ورته یاده شي، نو بیا دې ووایي:(بِسْمِ اللَّهِ فِي أَوَّلِهِ وَآخِرِهِ).[1]

او له خوراک څخه وروسته دا دعا لولئ: (الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا الطَّعَامَ وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلاَ قُوَّةٍ).[2]

ژباړه:((ټولې ستاینې هغه الله لره دي، چې رایې کړ ماته دا خواړه او روزي یې کړ زما، بې له قوت او کوښښ زما څخه.))

**ګټه**: ددې دعا له لوستلو سره به مخکینې او وروستني

---

۱. المعجم الکبیر للطبراني - (۹ / ۱۴) - زاد المعاد ۳۰۸مخ - بیروت چاپ.
۲. سنن أبی داود - ن - (۴ / ۷۴)

(کوچني)ګناهونه وبښل شي.

دغه راز له اوبو څښلو څخه وروسته دا دعا لولئ: (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ).

ژباړه:((ټولې ستاينې خاص الله تعالی لره دي.))

دا دعا هم ويلای شئ: (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِی أَطْعَمَ وَسَقٰی وَسَوَّغَهٗ وَجَعَلَ لَـهٗ مَخْرَجًا).[1]

ژباړه:((ټولې ستاينې خاص الله تعالی لره دي، چې خـوراک څښـاک يـې راکړ او تېر يې کړ زما او لاره د وتلو يې ورته وګرځوله.))

**يادونه**: دا دعا د خوراک کولو وروسته هم ويل کېږي.[2]

او کله مو چې جامې اغوستلې، نو دا دعا له ياده مه باسئ:

(الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي كَسَانِي هَذَا وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ.")[3]

يانې: ټول د کمال تعريفونه د الله تعالی لپاره دي، چې ماته يې دا جـامې واغوستلې او د کوم قوت او طاقت نه پرته يې راباندې ولورولې.

نو الله تعالی به ورته مخکيني ګناهونه وبښي.

يا دا دعـا لـولئ:(اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ كَسَوْتَنِيهِ أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِهِ وَخَيْرِ مَا صُنِعَ لَهُ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ).[4]

ژباړه:((ای الله تعالی! تا راتـه دا جامـه واغوسـتله، پـس تـا لـره صـفتونه د کمال دي، زه له تانه غواړم خيرددې جامې او هغه خير چـې دا جامـه ورتـه جوړه ده او پناه غواړم په تا باندې د شر ددې نه او له هغه شر نه چې دا جامه ورته جوړه ده.))

---

۱. سنن أبی داود-ن-(۳/ ۴۳۲)

۲. فاروقي، مولوي محمد غني، (سل دعاګانې)، ۱۳۹۳المريز کال، څلورم چاپ، ګودر کتاب خپرنځي- جلال اباد.

۳الدعاء للطبراني (ص: ۱۴۳).

۴. سنن أبی داود-ن-(۴/ ۷۴)

**یادونه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله نوې جامې (کالي، څادر، پګړی او نور...) اغوستلې، نو د هغې نوم به يې اخيسته او بيا به يې پورته دعا ويله.

او بل ته د جامو د مبارکی ورکولو دعا هم له یاده مه وباسئ:

(الْبَسْ جَدِيدًا، وَعِشْ حَمِيدًا، وَمُتْ شَهِيدًا).[1]

((واغونده نوې، ژوند تېر کړه ستایل شوی او مړ شه شهید.))

**ګټه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم عمرالفاروق رضی الله عنه ته د نویو جامو له امله همدا دعا کړې وه.

له پورته حدیثونو څخه د دې خبرې اندازه لګولای شو، چې دغه دوه لفظونه الحمدلله او سبحان الله له رب العزت سره څومره مقام او مرتبه لري.

حال دا چې د دې په اداکولو او لوستلو دوه دقیقې هم نه لګي او الله تعالی د دې په ویلو سره د خپلو بنده ګانو نه پرې راضي کېږي.

(ورضوان من الله اکبر...) یانې: د الله تعالی رضا د هر شي نه لوړه او بنه ده او چا چې ترلاسه کړه، هم هغه منزل ته رسېږي.

حکیم ترمذي رحمه الله په (نوادرالاصول) کې لیکلي، چې تر ټولو اخر چې جنتیانو ته کوم نعمتونه په نصیب کېږي او دومره به ورته ورکول کېږي، چې څومره يې په دنیا کې د الله تعالی د امر منلو کې مصیبتونه زغملي دي.

د حدیبه غزا مثال ستاسې په وړاندې دی، چې کله صحابه کرامو رضی الله عنهم د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په لاس مبارک د مرګ بیعت وکړ، نو الله تعالی دا ایت نازل کړ: (لَّقَدْ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ ٱلشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَٰبَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا﴿١٨﴾ سورة الفتح)

---

۱. المعجم الکبیر للطبراني - (۱۰/ ۴۲۵)

((الله تعالی له مؤمنانو څخه خوشحاله شو، کله چې هغوی له ونې لاندې له تا سره بیعت کاوه، د هغو د زړونو حال هغه ته معلوم دی، له دې امله یې پر هغو ډاډینه نازله کړه او هغو ته یې په انعام کې نژدې فتحه ورکړه.))

لږ فکر وکړئ، صحابه کرامو رضی الله عنهم له الله تعالی سره د خپلو ځانونو د قربانولو کولو عهد کړی و.

نو الله تعالی د هغو نه د راضي کېدو اعلان وکړ، نو کوم سړي چې خپل ټول ژوند د الله تعالی په لاره کې ولګوي، نو الله تعالی به ترې ولې نه رضا کېږي؟

دا ښېله خبره ده، چې چېرته موږ او چېرته صحابه کرام رضی الله عنه خو کم از کم د هغو په شان خو کولی شو، څکه د الله تعالی رحمت، خو خپلو بنده ګانو ته بهانې لټوي، نو سر له اوس نه پوخ عزم وکړئ او ورته لیکل شوي اذکار د خپل ژوند برخه وګرځوئ او یوازې په دې بسنه مه کوئ، بلکې خپل ټول ژوند د شریعت مطهره مطابق تېرولو کوښښ وکړئ.

ترڅو موږ ته د الله تعالی رضا مندي حاصله شي، له الله تعالی څخه دعا کوو، چې موږ یوازې د دنیا نه؛ بلکې د کردار غازیان جوړ کړې، آمین!!!

تر دې پورې د لومړي باب خاتمه وشوه او د الله تعالی په توفیق او مرستې سره د دویم باب پرانیسته او پیل کوو، له الله تعالی څخه دعا کوم، چې ماته د سمو خبرو لیکلو توفیق راپه برخه کړي او دغه کوچنی او ادنا هڅه په خپل دربار کې قبوله کړي.

# دويم څپرکی

## ايمان او نېکې کړنې

په دې باب کې موږ ستاسې په خدمت کې داسې اعمال وړاندې کوو، چې د هغو ترسره کول ډېر اسان دي، خو د الله تعالی پروړاندې يې ډېر قدر و قيمت دی، د دې اعمالو په ترسره کولو سره تاسې د جنت مبلمانه جوړېدلای شئ.

درنو لوستونکو!

ايمان ډېر ستر دولت دی او ډېر خوش نصيبه دي، هغه خلک چې هغو ته په کور دننه دا شتمني په ناسته ورکړل شوې ده، خو په ذهن کې د ساتلو او د نېکو اعمالو نه پرته پوره کېدلای نه شي او نه سړي ته د ايمان خوږوالی په نصيب کېدلای شي، د صالحو عملونو نه پرته د ايمان نه هغه ګټه نه شي ترلاسه کېدای، خو څوک يې چې اهتمام کوي، هغه ترې برخمن کېدلای شي الله رب العزت په خپل عظيم الشان کتاب قرآن شريف کې د ايمان او صالحو عملونو يوځای يادونه کړې ده، چې له دې نه په ځرګنده توګه پوهېدلی شو، چې مومن لپاره د صالحو عملونو ترسره کول ضروري او اړين دي.

کامل مومن هغه سړی دی، چې نېک عملونه ترسره کوي او د هغه په زړه کې د موجوده ايمان اغېزه وليدل شي او په شپږه فوته بدن باندې يې ځرګند شي.

او د هغه له خبرو او حرکتونو څخه چاته تکليف ونه رسېږي، د هغه ژبه د سپکو او فضولو خبرو پرځای د الله تعالی په ذکر مشغوله وي.

په دغه ټولو ورځنيو کارونو کې د حلال او حرامو تميز کول هم ستر رول لري، کوم سړی چې د حلالو او حرامو خيال ساتي، نو هغه ته د نورو نېکو

اعمالو توفيق هم په برخه کېږي او څوک چې يې پروا نه لري، له نورو نېکو عملونو څخه هم بې برخې او محروم پاتې کېږي.

اوس موږ د صالحو عملونو د ښودلو ترڅنګ څه داسې اياتونه په ګوته کوو، چې په هغوی کې د ايمان سره د صالح اعمالو يوځای ذکر شوی دی.

## ايمان او عمل صالح په قران کې

الله تعالی وايي: (إِنَّ ٱلَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ ٱلْفِرْدَوْسِ نُزُلاً﴿١٠٧﴾ سورة الكهف)

ژباړه:((البته کومو کسانو چې ايمان راوړ او ښه عملونه يې وکړل د هغو مېلمستون به د فردوس باغونه وي.))

بل ځای کې وايي: (إِلاَّ ٱلَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْاْ بِٱلْحَقِّ وَتَوَاصَوْاْ بِٱلصَّبْرِ﴿٣﴾ سورة العصر)

ژباړه:((پرته له هغو خلکو چې ايمان يې راوړی او ښه عملونه کوي او يو بل ته د حق نصيحت او د صبر ښودنه کوي.))

دغه راز په سورة البينة کې راځي:

(إِنَّ ٱلَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّالِحَاتِ أُوْلَـٰئِكَ هُمْ خَيْرُ ٱلْبَرِيَّةِ﴿٧﴾)

ژباړه:((کومو خلکو چې ايمان راوړی او ښه عملونه يې کړي دي، هغوی په رښتيا سره تر ټولو خلکو ډېر غوره دي.))

او په سورة المؤمن کې وايي:(مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً فَلاَ يُجْزَىٰ إِلاَّ مِثْلَهَا وَمَنْ عَمِلَ صَالِحاً مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُوْلَـٰئِكَ يَدْخُلُونَ ٱلْجَنَّةَ يُرْزَقُونَ فِيهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ﴿٤٠﴾)

ژباړه:((څوک چې بدي وکړي هغه ته به هماغومره بدله ورکړه شي څومره چې هغه بدي کړې وي. او څوک چې ښه عمل وکړي که هغه نارينه وي او که ښځه، په دې شرط چې هغه مومنان وي، دغسې ټول خلک به جنت ته داخل شي، چې هلته به هغو ته بې حسابه روزي ورکړل شي.))

CamScanner

او بل ځای کې راځي، چې:(وَمَآ أَمْوَالُكُمْ وَلَآ أَوْلَادُكُم بِٱلَّتِى تُقَرِّبُكُمْ عِندَنَا زُلْفَىٰٓ إِلَّا مَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمْ جَزَآءُ ٱلضِّعْفِ بِمَا عَمِلُواْ وَهُمْ فِى ٱلْغُرُفَٰتِ ءَامِنُونَ﴿۳۷﴾ سورة السباء)

ژباړه:((دا ستاسې شتمني او ستاسې اولادونه هغه څه نه دي، چې تاسې مونږ ته نېږدې کوي. هو، خو څوك چې ايمان راوړي او ښه عمل وکړي، همدغه خلك دي، چې د هغو لپاره د هغو د عمل دوچند مکافات دي او هغوی به په دنگو او هسکو ماڼيو کې په ډاډينه اوسېږي.))

او په سورة الروم کې وايي:(فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَهُمْ فِى رَوْضَةٍ يُحْبَرُونَ﴿۱۵﴾)

ژباړه:((کومو کسانو چې ايمان راوړی دی او ښه عملونه يې کړي دي، هغوی به په يو باغ کې خوښ خوشحاله وساتل شي.))

دا رنګه په سورة النحل کې راځي، چې:(ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ طَيِّبِينَ يَقُولُونَ سَلَٰمٌ عَلَيْكُمُ ٱدْخُلُواْ ٱلْجَنَّةَ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ﴿۳۲﴾)

ژباړه:((هغو له الله نه وېرېدونکو ته، چې کله ملايک د سپېڅلتيا په حالت کې د هغو ساګاني اخلي، نو وايي'سلام دې وي پر تاسې، د خپلو عملونو په بدل کې ځئ لاړ شئ جنت ته'.))

(ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْمَوْتَ وَٱلْحَيَوٰةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْغَفُورُ﴿۲﴾سورة الملک)

ژباړه:((هغه ذات چې مرګ او ژوند يې پيدا کړ، ترڅو چې تاسې وازمايي، وګورئ چې له تاسې څخه کوم يو د ډېر ښه عمل کوونکی دی او هغه زورور هم دی او ښونکی هم.))

د پورته ذکر شوو اياتونو له وروسته يو څو احاديث او اقوال بيانوو، چې پکې د نېکو عملونو فضيلت ښودل شوی دی:

(عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الطُّهُورُ شَطْرُ الْإِيمَانِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ تَمْلَأُ الْمِيزَانَ، وَسُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ تَمْلَآنِ - أَوْ تَمْلَأُ - مَا بَيْنَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ، وَالصَّلَاةُ نُورٌ، وَالصَّدَقَةُ بُرْهَانٌ وَالصَّبْرُ ضِيَاءٌ، وَالْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَكَ أَوْ عَلَيْكَ، كُلُّ النَّاسِ يَغْدُو فَبَايِعٌ نَفْسَهُ فَمُعْتِقُهَا أَوْ مُوبِقُهَا»)[۱]

له ابي مالک الاشعري رضی الله عنه څخه روایت دی، دی وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: پاکوالی د ایمان برخه ده، الحمدلله تله ډکوي، (سبحان الله او الحمدلله) دواړه تله ډکوي او یا ډکوي د ځمکې او اسمانونو ترمنځ او لمونځ رڼايي ده او صدقه دلیل دی او صبر تېزه رڼا ده او قرآن دلیل دی تا لپاره او یا په تا باندې، ټول خلک سبا کوي، خپل نفس خرڅوي، یایې ازادوي او یا یې هلاکوي.

علامه نووي رحمه الله د دې حدیث په تشریح کې لیکي:هر انسان کوښښ کوي، خو د چا کوښښ د رب العالمین د رضا حاصلولو لپاره وي او څوک د نفسي خواهشاتو د پوره کولو لپاره خان سترې کوي.

له لومړني سړي څخه خو الله تعالی راضي شي او هغه په دنیا او اخرت کې بریالی شي او دویم سړی په دنیا او اخرت دواړو کې د تاوان ښکار شي.

دغه راز بل حدیث دی، چې:

(وفي جامع العلوم والحکم یروي عن عیسی علیه السلام انه قال: ان هذا اللیل والنهار خزانتان فانظرو اما تصنعون فیها.)[۲]

په (جامع العلوم والحکم) کتاب کې له عیسی- علیه السلام څخه روایت دی، چې وایي:ورځ او شپه د خزانې په څېر دي، لو چې کوم کار کوئ، په

---

[۱] صحیح مسلم (۱/ ۲۰۳).
[۲] جامع العلوم والحکم ۲۹۲/۱.

بنه فکر سره یې کوئ (ځکه چې د خزالې له هغه څه راوځي، چې پکې جمع کېږي).

(کان یقول علیه الصلاة والسلام اعملوا اللیل لما خلق له والنهار لما خلق له.)

او د شپې او د ورځې د تخلیق بېلابېل مقصدونه دي، نو هر یو د خپل مقصد لپاره استعمال کړئ.

مجاهد رحمه الله وایي: یوه ورځ هم داسې نه ده، چې بني ادم ته داسې نه وایي، چې نن زه په لومړي او وروستي ځل ستا په ژوند کې راغلې یم، نو ته چې هر یو کار کوې، په ښه غور او فکر سره یې وکړه، ځکه که زه درنه تېره شم، نو ستا په ترسره کړو کارونو باندې به مهر ولګول شي. او بیا د قیامت ورځې پورې به پکې څوک د ذرې هومره تغییر او بدلون ونه کړای شي او بیا به د دې په بنا الله تعالی ستا په باره کې د جنت او دوزخ پرېکړه وکړي:

(عن ابن عباس رضی الله عنه ما طلعت شمس من المشـــرق فی یومـــه الا ومعها ملک ینادی الامتزود منی خیرا فانی لن ارجـــع الیـــه الی ان تقومـــه الساعة کل یوم شاهد بما کسبت یداه.)[1]

له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی، چې رسـول الله صـلی الله علیه وسلم ویلي دي: کله چې له مشرق څخـه لمر راخېـژي، نـو یـو ملایـک اعلان کوي، څوک شته چې له ما نه خیر راټول کړي؟

ځکه زه به بیا تر قیامته پورې بېرتـه راسـتون نـه شـم، نـو هـره ورځ بـه تـر قیامته پورې د هغه په اعمالو باندې شاهدي ورکوي.

(عن أَيْفَعَ بْنَ عَبْدٍ الْكَلَاعِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ، وَأَهْلُ النَّارِ النَّارَ، قَالَ اللهُ تَعَالَى: يَا أَهْلَ الْجَنَّـــةِ، كَمْ لَبِثْتُمْ فِي الْأَرْضِ عَدَدَ سِنِينَ؟ قَالُوا: لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ، قَالَ: نِعْمَ، مَا

[1] الفردوس کاثور الخطاب ۷۲/۴.

اتَّجَرْتُمْ فِي يَوْمٍ أَوْ بَعْضِ يَوْمٍ، رَحْمَتِي وَرِضْوَانِي وَجَنَّتِي، امْكُثُوا فِيهَا خَالِدِينَ مُخَلَّدِينَ، ثُمَّ يَقُولُ لِأَهْلِ النَّارِ: {كَمْ لَبِثْتُمْ فِي الْأَرْضِ عَدَدَ سِنِينَ قَالُوا لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ} [المؤمنون: ۱۱۳]، فَيَقُولُ: بِئْسَ مَا اتَّجَرْتُمْ فِي يَوْمٍ أَوْ بَعْضِ يَوْمٍ، سُخْطِي وَمَعْصِيَتِي وَنَارِي، امْكُثُوا فِيهَا خَالِدِينَ مُخَلَّدِينَ فَيَقُولُونَ: {رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْهَا، فَإِنْ عُدْنَا فَإِنَّا ظَالِمُونَ} [المؤمنون: ۱۰۷] فَيَقُولُ: {اخْسَئُوا فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونَ}، فَيَكُونُ ذَلِكَ آخِرَ عَهْدِهِمْ بِكَلَامِ رَبِّهِمْ تَعَالَى")[1]

یانې کله چې جنتیان جنت ته او دوزخیان دوزخ ته داخل شي، نو الله تعالی به جنتیانو ته وفرمایي، تاسې په څمکه څومره کلونه تېر کړي دي؟

هغوی به ځواب ورکړي، یوه ورځ یا د هغې نیمه برخه، نو الله تعالی به ورته ووایي: په دومره لږ وخت کې تاسې ډېره د ګټې سودا کړې ده، تاسې زما رحمت، زما رضا او جنت ګټلی دی، اوس به دې کې د تل لپاره اوسېږئ.

بیا به دوزخیانو ته مخاطب شي او ورته به وفرمایي: تاسې په ځمکه کې څومره کلونه تېر کړي دي؟

نو هغوی به په ځواب کې ورته ووایي: یوه ورځ یا د هغې نیمه برخه.

الله تعالی به ځواب ورکړي: په دومره لږه موده کې تاسې ډېره تاوانې سودا کړې ده. تاسې زما نافرماني، زما ناراضیتوب او دوزخ حاصل کړی دی، اوس د تل لپاره پکې اوسېږئ.

الله تعالی دې موږ له دوزخ څخه په امان کې وساتئ او په جنت الفردوس کې دې ځای رانصیب کړي، آمین!!!

---

[1] حلية الأولياء وطبقات الأصفياء (۱۳۲/۵).

# په مرګ يقين لرو، خو تياری ورته نه لرو!

علامه فليد العصري رحمه الله فرمايي، هر سړی په مرګ يقين لري، خو هغې لپاره هېڅ تياری نه لري.

هر سړي ته معلومه ده، چې د مرګ نه وروسته به يا جنت ته ځي يا دوزخ ته، خو د دې باوجود د جنت ترلاسه کولو لپاره هڅه نه کوي او نه د دوزخ نه د بچ کېدو څه تدبيرونه کوي.

اخر موږ د څه شي انتظار کوو؟ ايا موږ د مرګ منتظره يو؟! روزانه خو زموږ د سترګو وړاندې د يو نه يو چا جنازه پورته کېږي، خو په موږ باندې هېڅ اثر نه کوي، لږه شېبه له ځان سره فکر وکړئ، چې سبا ته مو جنازه پورته شي، قبر کې راباندې خاورې واړول شي او تول رانه روان شي، بيا د امتحان اخيستو لپاره دوه ملايک راشي او که الله ناخواسته په امتحان کې ناکامه شو. نو څه به راسره کېږي؟!

له دې تصور سره هم د سړي ښښې لړزېږي، نو د دې لپاره د اوس نه د امتحان تياری وکړئ.

دا داسې ازموينه ده، چې د سترګو رپ کې دې پرچه سرچپه کېدلای شي، خو اړتيا يوازې د لږ محنت ده.

بيا هم که څوک د سستۍ نه کار اخلي او پکې ناکامه شي، نو دا ډېره د بدبختۍ خبره ده.

دا فکر مه کوئ، چې لا ډېر عمر پاتې دی، وروسته به توبه وکړم، ځکه چې د مرګ هېڅ وخت نه دی مقرر او نه په لوی وړوکي دی.

مرګ ته زوړ، ځوان او ماشوم يوه خبره ده، هر يو به د مرګ خوند څکي، خوش نصيبه خلک هغه دي، چې د مرګ نه مخکې د اخرت لپاره تياری کوي او د قيامت په ورځ چې کله د حشر په ميدان کې خلک راټول شي، د جنت او دوزخ فيصلې کېږي، نو د رب رضا کول د دې لفظونو اواز دی.

# جنتي نعمتونه

الله تعالی وايي:(يَٰعِبَادِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡكُمُ ٱلۡيَوۡمَ وَلَآ أَنتُمۡ تَحۡزَنُونَ﴿٦٨﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُواْ مُسۡلِمِينَ﴿٦٩﴾ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ أَنتُمۡ وَأَزۡوَٰجُكُمۡ تُحۡبَرُونَ﴿٧٠﴾ يُطَافُ عَلَيۡهِم بِصِحَافٖ مِّن ذَهَبٖ وَأَكۡوَابٖۖ وَفِيهَا مَا تَشۡتَهِيهِ ٱلۡأَنفُسُ وَتَلَذُّ ٱلۡأَعۡيُنُۖ وَأَنتُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ﴿٧١﴾ وَتِلۡكَ ٱلۡجَنَّةُ ٱلَّتِيٓ أُورِثۡتُمُوهَا بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ﴿٧٢﴾ لَكُمۡ فِيهَا فَٰكِهَةٞ كَثِيرَةٞ مِّنۡهَا تَأۡكُلُونَ﴿٧٣﴾ سورة الزخرف)

ژباړه:((په هغه ورځ به هغو خلکو ته چې زمونږ پر آيتونو يې ايمان راوړی و، اوامر منونکي وو وويل شي، چې((ای زما بنده ګانو! نن ستاسې لپاره څه وېره نه شته او نه به دربانديې څه غم راشي)). په هغه ورځ به هغو خلکو ته چې زمونږ پر ايتونو يې ايمان راوړی و او مسلمانان وو وويل شي، چې: ننوځئ! جنت ته تاسې او ستاسې مېرمنې، تاسې به خوشحاله کړای شئ. د هغو په مخکې به د سرو زرو ګيلاسونه او جيکونه ګرځول کېږي او هرزړه خوښوونکی او سترګې خوږوونکی شی به هلته موجود وي. دوی ته به وويل شي تاسې به اوس دلته د تل لپاره اوسېږئ. تاسې د دغه جنت وارثان د خپلو هغو کړنو له امله ګرځېدلي يئ، چې په دنيا کې مو کول. ستاسې لپاره دلته پرېمانه ښې غوره مېوې شته، چې تاسې به يې خورئ.))

(مِّن لَّبَنٖ لَّمۡ يَتَغَيَّرۡ طَعۡمُهُۥ وَأَنۡهَٰرٞ مِّنۡ خَمۡرٖ لَّذَّةٖ لِّلشَّٰرِبِينَ وَأَنۡهَٰرٞ مِّنۡ عَسَلٖ مُّصَفّٗى﴿١٥﴾ سورة محمد)

ژباړه:((د داسې شيدو چې په خوند کې به يې هېڅ توپير نه وي راغلی، ويالې به بهېدونکې وي، د داسې شرابو چې د څښونکو لپاره به لذت بښونکي وي، ويالې به بهېدونکي وي، د صافو ربو شاتو.))

او د هغو د خادمانو په اړه الله تعالی وايي:

(يَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ﴿۱۷﴾ بِأَكْوَابٍ وَأَبَارِيقَ وَكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ﴿۱۸﴾ لاَّ يُصَدَّعُونَ عَنْهَا وَلاَ يُنزِفُونَ ﴿۱۹﴾ سورة الواقعة)

ژباړه:((د هغو په مجلسونو كې به همبشني هلكان ګرځي راګرځي. د شرابو له بهېدونكې چينې له ډكو پيالو، سراحيانو او جامونو سره. چې د هغو په څښلو سره به نه د هغو سر وګرځي نه به يې په اعصابو كې خرابي پيدا شي.))

په يو بل ځاى كې الله تعالى د جنتيانو تذكره داسې ذكر كړې ده:

(إِنَّ ٱلأَبْرَارَ يَشْرَبُونَ مِن كَأْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُوراً﴿۵﴾ عَيْناً يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ ٱللَّهِ يُفَجِّرُونَهَا تَفْجِيراً ﴿۶﴾ يُوفُونَ بِٱلنَّذْرِ وَيَخَافُونَ يَوْماً كَانَ شَرُّهُ مُسْتَطِيراً ﴿۷﴾ وَيُطْعِمُونَ ٱلطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِ مِسْكِيناً وَيَتِيماً وَأَسِيراً ﴿۸﴾ إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ ٱللَّهِ لاَ نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَآءً وَلاَ شُكُوراً ﴿۹﴾ إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوْماً عَبُوساً قَمْطَرِيراً ﴿۱۰﴾ فَوَقَاهُمُ ٱللَّهُ شَرَّ ذَٰلِكَ ٱلْيَومِ وَلَقَّاهُمْ نَضْرَةً وَسُرُوراً﴿۱۱﴾ وَجَزَاهُمْ بِمَا صَبَرُواْ جَنَّةً وَحَرِيراً﴿۱۲﴾ مُّتَّكِئِينَ فِيهَا عَلَىٰ ٱلأَرَائِكِ لاَ يَرَوْنَ فِيهَا شَمْساً وَلاَ زَمْهَرِيراً﴿۱۳﴾ وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلاَلُهَا وَذُلِّلَتْ قُطُوفُهَا تَذْلِيلاً﴿۱۴﴾ وَيُطَافُ عَلَيْهِمْ بِآنِيَةٍ مِّن فِضَّةٍ وَأَكْوابٍ كَانَتْ قَوَارِيرَاْ﴿۱۵﴾ قَوَارِيرَاْ مِن فِضَّةٍ قَدَّرُوهَا تَقْدِيراً﴿۱۶﴾ وَيُسْقَوْنَ فِيهَا كَأْساً كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلاً﴿۱۷﴾ عَيْناً فِيهَا تُسَمَّىٰ سَلْسَبِيلاً﴿۱۸﴾ وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤاً مَّنثُوراً﴿۱۹﴾ وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيماً وَمُلْكاً كَبِيراً﴿۲۰﴾ عَالِيَهُمْ ثِيَابُ سُندُسٍ خُضْرٌ وَإِسْتَبْرَقٌ وَحُلُّوۤاْ أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٍ وَسَقَاهُمْ رَبُّهُمْ شَرَاباً طَهُوراً﴿۲۱﴾ إِنَّ هَـٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَآءً وَكَانَ سَعْيُكُم مَّشْكُوراً﴿۲۲﴾ سورة الدهر"الانسان")

ژباړه:(( ښه خلك به (په جنت کې) د شرابو داسې جامونه څښي، چې په هغو کې به د کافور اوبه گډې شوې وي. دا به يوه بهېدونکې چينه وي، چې د الله بنده گان به يې اوبه څښي او کوم لوري ته يې چې زړه وي، په اسانۍ سره به د هغې لختي باسي بهوي به يې. دا به هغه کسان وي، چې (په دنيا کې) په نذر وفا کوي او له هغې ورځې نه وېرېږي، چې د هغې افت به په هر لوري خور شوی وي. او د الله په مينه کې مسکين او يتيم او بندي ته خواړه ورکوي. (او هغو ته وايي، چې) مونږ تاسې ته يوازې د الله تعالى په خاطر خواړه درکوو، موږ له تاسې څخه نه څه بدله غواړو، نه شکريه. له مونږ سره خو له خپل رب څخه د هغې ورځې د عذاب وېره ده، چې د سخت کړاو ډېره اوږده ورځ به وي. نو الله تعالیٰ به دوی د هغې ورځې له شر څخه وژغوري او دوی ته به تر تازه گي او خوشحالي ورکړي. او د هغو د صبر په بدل کې به هغو ته جنت او ورېښمين کالي ورکړي. هلته به هغوی پر لوړو مسندونو باندې تکيه وهلي ناست وي، نه به يې د دوبي گرمي په تکليف کړي او نه د ژمي ساړه. د جنت څانگې به پرې راټيټې شوې سيوري کوونکې وي او د هغه مېوې به هر وخت د هغوی په وس کې وي (چې څنگه غواړي ويې شکوي). د هغو مخې ته به د سپينوزرو لوښي او د ښيښو گيلاسونه گرځول کېږي. ښيښې هم هغه چې د سپينوزرو په ډول به وي او هغه به (د جنت منتظمينو) په سمه اندازه برابر ډك کړي وي. په هغو به هلته د شرابو داسې جامونه وڅښل شي، چې سونډ به پکې گډ شوي وي. دا به د جنت يوه چينه وي، چې سلسبيل ورته ويل کېږي. او د هغو د خدمت لپاره به داسې هلکان گرځي راگرځي، چې تل به په هلکولۍ کې وي، که ته هغوی ووينې؛ نو گومان به وکړې، چې مرغلرې دي، چې خورې کړای شوي دي. هلته چې ته هرې خوا ته نظر واچوې سراسر نعمتونه او د يو لوی سلطنت رنگ رونق به دې تر سترگو شي. پر هغو باندې به د نريو ورېښمو شنه جامه پرته او د اطلس او د پرېړو ورېښمو جامې به يې وي، هغو ته به د سپينوزرو بنگړي واچول

شي او د هغو رب به په هغو باندې ډېر زيات پاك شراب وڅښي. دا دی ستاسې مكافات او ستاسې هاند هڅه د قدر وړ ده.))

نو د دې اعمالو په واسطه تاسې خپل نوم د جنتيانو په ليست كې شامل كولای شئ!

## خشيت الهي او جنت

محترمو لوستونكو! په خپلو بنده ګانو د الله تعالى د رحمت انتها ده، غفلت او سستي زموږ د لوري ده.

په حديث كې راځي، دوه څاڅكي الله تعالى ته ډېر خوښ دي، يو د الله تعالى په لاره كې توی شوې د وينو څاڅكي دي او بل د الله تعالى د وېرې نه د اوښكو څاڅكي.

د كوم بنده زړه چې د الله تعالى د وېرې نه غمجن وي، نو الله تعالى به ورباندې يو نه؛ بلكې دوه جنتونه ولوروي.

يو د سپينو زرو او بل د سرو زرو، لكه څنګه يې چې په قرآن كريم كې يې بيان شوی دی:(وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ﴿٤٦﴾ سورة الرحمن)

ژباړه:((او د هر هغه چا لپاره چې د خپل رب حضور ته له ورانديې كېدو نه وېره لري، دوه باغونه دي.))

يو بل ځای كې وايي:(وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى ٱلنَّفْسَ عَنِ ٱلْهَوَىٰ﴿٤٠﴾ فَإِنَّ ٱلْجَنَّةَ هِيَ ٱلْمَأْوَىٰ﴿٤١﴾ سورة النازعات)

ژباړه:((او چا چې د خپل رب په مخ كې له درېدو نه وېره كړې وه او نفس يې له ناوړو غوښتنو څخه ساتلي و. نو جنت د هغه هستوګنځی دی.))

او په سورة يٰس كې راځي:

(إِنَّمَا تُنذِرُ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلذِّكْرَ وَخَشِيَ ٱلرَّحْمَـٰنَ بِٱلْغَيْبِ فَبَشِّرْهُ بِمَغْفِرَةٍ وَأَجْرٍ كَرِيمٍ﴿١١﴾)

ژباړه:((ته خو هماغه څوك خبردار كولای شي، چې د نصيحت پېروي وكړي او له نالیدلي رحمان ذات نه وویرېږي، هغه ته د بښنې او غوره اجر زيرى وركړه.))

**حيرانوونكې كيسه**: د نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمان دى:(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " قَالَ رَجُلٌ لَمْ يَعْمَلْ خَيْرًا قَطُّ: فَإِذَا مَاتَ فَحَرِّقُوهُ وَاذْرُوا نِصْفَهُ فِي البَرِّ، وَنِصْفَهُ فِي البَحْرِ، فَوَاللَّهِ لَئِنْ قَدَرَ اللَّهُ عَلَيْهِ لَيُعَذِّبَنَّهُ عَذَابًا لاَ يُعَذِّبُهُ أَحَدًا مِنَ العَالَمِينَ، فَأَمَرَ اللَّهُ البَحْرَ فَجَمَعَ مَا فِيهِ، وَأَمَرَ البَرَّ فَجَمَعَ مَا فِيهِ، ثُمَّ قَالَ:لِمَ فَعَلْتَ؟ قَالَ:مِنْ خَشْيَتِكَ وَأَنْتَ أَعْلَمُ، فَغَفَرَ لَهُ")[1]

له ابو هريره رضى الله عنه څخه روايت دى، چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم د يو داسې سړي د كيسې د بيانولو سره وويل: چې هغه كله هم د نېكۍ يو كار هم نه و كړى، د خپلې كورنۍ غړو ته يې وصيت كړى و، كله چې مړ شي، نو په اور كې دې وسوزول شي، تر دې چې جسد يې ايره شي، نيمې ايرې دې په خشكې ځمكې كې خورې كړي او نيمې دې په درياب كې واچول شي.

څكه چې هغه د الله تعالى په نيونې كې رانه شي، چې سخت عذاب به وركول شي، لنډه دا كله چې هغه سړى مړ شو، نو د كورنۍ غړو يې له جسد سره يې همداسې معامله وكړه، چې څنگه هغه په وصيت كې ويلي و.

بيا رب العزت په ځمكې كې خورو ايرو ته د يوځاى كېدو امر وكړ، نو هغه ټولې ذرې يوځاى ته راغونډې شولې.

همداسې امر يې درياب ته هم وكړ، بيا الله تعالى ترې پوښتنه وكړه، تا داسې ولې وكړل؟!

---

[1] صحيح البخاري(۹/ ۱۴۵). صحيح مسلم(۴/ ۲۱۰۹).

CamScanner

نو هغه سړي ځواب ورکړ: ای ربه! یوازې ستا د عذاب له وېرې نه، ځکه له مانه زيات ته زما د حال په حقيقت خبر يې؛ نـو الله تعـالى د هغـه د بښـنې پرېکړه وکړه.

## د يو ځوان سبق لرونکې کيسه:

(عَنِ الْحَسَنِ قَالَ: كَانَ شَابٌّ عَلَى عَهْدِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يُلَازِمُ الْمَسْجِدَ وَالْعِبَادَةَ فَعَشِقَتْهُ جَارِيَةٌ فَأَتَتْهُ فِي خَلْوَةٍ فَكَلَّمَتْهُ فَحَدَّثَ نَفْسَهُ بِذَلِكَ فَشَهِقَ شَهْقَةً فَغُشِيَ عَلَيْهِ فَجَاءَ عَمٌّ لَهُ فَحَمَلَهُ إِلَى بَيْتِهِ فَلَمَّا أَفَاقَ قَالَ: " يَا عَمُّ انْطَلِقْ إِلَى عُمَرَ فَأَقْرِئْهُ مِنِّي السَّلَامَ، وَقُلْ لَهُ مَا جَزَاءُ مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ فَانْطَلَقَ عَمُّهُ فَأَخْبَرَ عُمَرَ وَقَدْ شَهِقَ الْفَتَى شَهْقَةً أُخْرَى فَمَاتَ مِنْهَا فَوَقَفَ عَلَيْهِ عُمَرُ فَقَالَ: لَكَ جَنَّتَانِ لَكَ جَنَّتَانِ")[1]

له حسن رحمه الله څخه روایـت دی، چـې د عمـر رضی الله عنـه پـه دور حکومت کې يو ځوان و، چې هر وخت به جومات کې په عبادت مشغول و.

د يوې جينۍ له هغه سره مينه پيدا شوې وه او د هغه خـوا تـه پـه تنهـايي کې راغلې وه او د خپلې ارادې نه يې خبر کړی و، په همدې فکرونو کې وه، چې يو دمې د ځوان د خولې نه وېروونکې چغـه ووتلـه او بـې خـوده شـولو، چې کله يې کاکا ته معلومه شوه، خپل کور ته يې يوړو.

لږه شېبه وروسته ځوان په خود راغی، نو خپل کاکـا تـه يـې وويـل، چـې عمر رضی الله عنه خواته لاړ شه، زما سلام ورته کوه او دا پوښـتنه تـرې وکـړه، چې د هغه سړي څه بدله ده، چې د قيامت پـه ورځ الله تعـالى تـه د ځـواب ورکولو وېره لري.

د هغه کاکا عمر رضی الله عنه ته لاړو او ټوله کيسه يې ورته بيان کړه.

عمر رضی الله عنه څه شېبه فکر وړی و، بيا يې وويل: د داسې سړي لپـاره دوه جنتونه دي.

---

[1] شعب الإيمان(۲/ ۱۹۸).

# دوه جنتونه د چا لپاره دي؟!

له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی، چې کله په نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندې دا ایت مبارک نازل شو.

(يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ آمَنُوا۟ قُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ﴿٦﴾ سورة التحريم)

ژباړه:((ای مؤمنانو! خپل ځانونه او خپل اولاد او کورنۍ له هغه اور نه وژغورئ، چې د هغه د سون مواد به انسانان او تیږې وي، چې پر هغه به غوسه ناك سخت زړي ملایک مؤظف وي، چې هېڅکله به د الله له حکم څخه سر نه غړوي او هر امر چې ورته کېږي، هغه په ځای راوړي.))

نبي کریم صلی الله علیه وسلم به د ورځې او شپې په وخت کې صحابه کرامو رضی الله عنه په وړاندې د دې ایت تلاوت کولو، نو یو ځوان د دې ایت په اورېدو بې خوښه شوی و.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم د هغه په سینې لاس مبارک کېښود، د هغه د زړه حرکت بند شوی و.

بیا نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته د کلیمې طیبې د لوستو امر وکړ او هغه کلیمه ولوسته او نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته د جنت زېری ورکړ.

صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړ، ای د الله تعالی پیغمبره! ایا دا زېری یوازې د همدې لپاره دی؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: ایا تاسې د الله تعالی دا ایت نه دی اورېدلی: (لِمَنْ خَافَ مَقَامِى وَخَافَ وَعِيدِ)[1] یانې: دا د هغه چا مکافات دي، چې زما په حضور کې له ځواب ویلو نه وېره لري او زما د عذاب له اخطار نه دارېږي.

---

[1] سورة ابراهیم، ۱۴ ایت

# د الله تعالی نه د وېرې مقصد

اوس دلته د الله تعالی نه د وېرې په مقصد هم ځان پوه کړه، ددې لنډېز دا دی چې يو انسان ته د ګناه کولو ټول اسباب برابر وي او هغه يوازې او يوازې د الله تعالی د وېرې له امله ترې لاس په سر شي، همدغه تفسير امام ابراهيم او علامه مجاهد رحمهما الله د الله تعالی ددغې مبارکې وينا په اړه کړی دی: (وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ). الرحمن (٤٦).

ژباړه: د هرهغه چا لپاره چې دخپل رب حضور ته له وړاندې کېدو نه وېره لري دوه باغونه دي.

له انس رضی الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي: ("يَقُولُ اللَّهُ: أَخْرِجُوا مِنَ النَّارِ مَنْ ذَكَرَنِي يَوْمًا أَوْ خَافَنِي فِي مَقَامٍ)[1] ياني: الله تعالی به د قيامت په ورځ ووايي: داسې ټول خلک د دوزخ د اور نه راوباسئ، چا چې کومه ورځ زه په ياد کړی يم او زما په وړاندې ودرېدو نه ډارېدل.

د ترمذي په شرحه (تحفة الاحوذی) کې د دې جملې تشريح داسې راغلې ده:"د هرې ګناه کوونکی، چې يوازې د الله تعالی د وېرې نه د ګناه نه منع شي، لکه څنګه چې په قرآن کريم کې راغلي دي:

(وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى ٱلنَّفْسَ عَنِ ٱلْهَوَىٰ ﴿٤٠﴾ فَإِنَّ ٱلْجَنَّةَ هِيَ ٱلْمَأْوَىٰ ﴿٤١﴾ سورة النازعات)

ژباړه:((او چا چې د خپل رب په مخ کې له درېدونه وېره کړې وه او نفس يې له ناوړو غوښتنو څخه ساتلی و. نو جنت د هغه هستوګنځی دی)) نو جنت يې ځای دی."

د پورته حديث په تشريح کې علامه طيبي رحمه الله څه داسې بيان کوي، چې له (ذکر) څخه مراد داسې ذکر دی، چې د زړه د تصديق سره

[1] سنن الترمذي ت شاکر (۷۱۲/۴).

وي او نه يوازې په ژبه باندې؛ ځکه په ژبه خو کفار هم د الله تعالى نوم اخلي، د دې په تاييد کې يې دا حديث رانقل کړی دی: ("مَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلا اللَّهُ صَادِقًا مِنْ قَلْبِهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ") څوک چې (لَا إِلَهَ إِلا اللَّهُ) په رښتيا له زړه نه ووايي؛ نو جنت ته به داخل شي.

د دويم جز (خَافَنِي فِي مَقَامٍ) په تشريح کې فرمايي، له وېرې نه مراد دا دی، چې د هغې له امله سړی د ګناه پرېښودلو ته اړ او ترې ايسار شي او د نېکۍ په کارونو کې ګړندی شي.

دا مطلب ترې هرګز نه دی، کوم چې وېروونکي مناظر ورته ونښودل شي يا ورته کوم مصيبت پېښ شي يا څه وېره ورته پيدا شي او د الله تعالى په لوري متوجه شي، خو چې څنګه ترې مصيبت لرې شي، د پېښې ثرات ختم شي، هر څه يې هېر شي او بيا هغې ډګر پلو روان شي.

## غوره خبره

علامه فضيل رحمه الله به فرمايي: که له تا نه يو څوک پوښتنه وکړي، چې ته له الله تعالى څخه ډارېږې؟ نو کوم ځواب مه ورکوه، بلکې خاموشه باتې شه، ځکه که داسې ووايي، چې نه؛ نو د کفر ارتکاب به وکړې او که ځواب ورکړې، چې هو، ډارېږم، چې د درواغو ارتکاب به وکړې.

درنو لوستونکو!

د الله تعالى د وېرې نه د وتونکو اوښکو يو څاڅکی الله تعالى ته ډېر خوښ عمل دی.

له عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وايي: («مَا مِنْ عَبْدٍ مُؤْمِنٍ يَخْرُجُ مِنْ عَيْنَيْهِ دُمُوعٌ، وَإِنْ كَانَ مِثْلَ رَأْسِ الذُّبَابِ، مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ، ثُمَّ تُصِيبُ شَيْئًا مِنْ حُرِّ وَجْهِهِ، إِلَّا حَرَّمَهُ اللَّهُ عَلَى النَّارِ»)[1]

---

[1] سنن ابن ماجه (۲/ ۱۴۰۴).

يو مومن بنده هم داسې نه دی، چې د هغه سترګو نه د الله تعالی د وېرې نه اوښکې توی نه شي. اګر که هغه د مچ د سر هومره هم وي، بيا به د هغه مخ د اور تاو نه سوزوي، ځکه په داسې مخ باندې الله تعالی اور حرام کړی دی.

نو غور وکړئ، چې زموږ په ټول ژوند کې داسې کومه شېبه تېره شوې ده؟ چې پکې موږ يوازې د الله تعالی د وېرې نه، له ګناه څخه ايسار شوي يو.

هو... که داسې کومه شېبه درباندې راغلې وي، بيا خو د الله تعالی شکر ايستل پکار دي، د يو نه؛ بلکې د دوه جنتونو اميد ساتل هم پکار دی.

لکه څنګه چې په حديث مبارک کې راغلي دي او که داسې نه وي شوي، بيا خو د افسوس مقام دی او همدا د غفلت او سستۍ انتها ده او د دې سبب د افسوس نه پرته بل هېڅ هم نشته.

موږ خو د دنيا هر څه راټولولو کې چاپېره يو او د اخرت نه غافله يو، حال دا چې معامله برعکس پکار ده او موږ اخرت بلکل هېر کړی دی.

## په دنيا کې د ژوند تېرولو مثال

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د فرمان مبارک مفهوم دی، چې په دنيا کې داسې ژوند تېر کړه، لکه څنګه چې يو مسافر چېرته وغواړي او د يوې شېبې لپاره هلته ارام وکړي، يا لږه شېبه د سترېا له امله دمه وکړي او هغه ځای خپل منزل ونه ګڼي.

چې د هغې په ارايش او ښکلا کې راګېرېدو سره دا خپل اصل منزل هېر کړي.

زما ورونو! اخر به هم موږ له دې دنيا نه روانېږو، په دې کې بايد د ورکېدو سره د اخرت نه غافله نه شو، دا ډېره د ناداني خبره ده، چې د خو ورځو د ژوند په غم کې د ټول عمري ژوند ځای هېر کړو.

د داسې خلکو په اړه الله تعالی ویلي دي: ﴿فَأَمَّا مَن طَغَىٰ﴿۳۷﴾ وَآثَرَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ﴿۳۸﴾ فَإِنَّ الْجَحِيمَ هِيَ الْمَأْوَىٰ﴿۳۹﴾ سورة النازعات﴾

ژباړه:((نو چا چې سرکشي کړې وه. او د دنیا ژوند ته یې ترجیح ورکړې وه. همدا دوزخ د هغه هستوګنځی دی.))

علامه طبري رحمه الله د پورته ایت په تفسیر کې لیکلي، چې په دې ایت کې د داسې خلکو بیان دی، چې د دنیا ظاهري ساز و سامان په مقابل کې یې هغه نعمتونو ته پرې ارزښت ورکړی.

کوم چې الله تعالی خپلو نېکو بنده ګانو ته تیار کړي دي، چې د هغو یادونه نبي کریم صلی الله علیه وسلم په څه داسې اندازې سره بیان کړې دی:(مالا عین رات ولا اذن سمعت ولا خطر علی قلب بشر.)

یانې: هغه داسې نعمتونه دي، چې تراوسه پورې کومو سترګو نه دي لیدلي او نه کومو غوږونو په دې اړه اورېدلي دي او نه په کوم زړه کې د دې خیال راغلی دی.

او د هغو خلکو په اړه چې یوازې په دنیا کې ورک دي او د اخرت فکر ورسره نشته، الله تعالی داسې ورته ویلي دي: ﴿فَإِنَّ الْجَحِيمَ هِيَ الْمَأْوَىٰ﴾.

یانې: همدا دوزخ د هغه هستوګنځی دی.

## د صف ډکولو فضیلت

په حدیث مبارک کې راځي، کوم سړی چې په صف کې خالي ځای ډک کړي، الله تعالی به ورته ښښنه وکړي او د هغه لپاره به جنت کې د یو محل جوړولو امر وکړي، نو لږ غور وکړئ، له دې نه بله کومه ارزانه سودا کېدلای شي؟

خو دغه فضیلت موږ هغه وخت ترلاسه کولی شو، چې کله په جومات کې له جمعې سره د لمونځ کولو عادت په ځان کې راولو، نو همدا اوس نه پوخ

عزم وکړئ، چې اينده به پينځه وخته لمونځونه په جومات کې له جمعې سره په پابندۍ سره اداکوو، ترڅو له دې فضيلت څخه محروم نه شو.

په همدې مفهوم سره يو څو احاديث وړاندې کوو، لـه ابی جحيفـه رضی الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي:(مَنْ سَدَّ فُرْجَةً فِي الصَّفِّ غُفِرَ لَهُ.)[1]

ژباړه: کوم سړی چې په صف کې خـالي ځـای ډک کـړي، الله تعـالی بـه ورته بښنه وکړي.

د مؤمنانو مور عائشې رضی الله عنهـا څخـه روايـت دی، چـې رسـول الله صلی الله عليه وسلم ويـلـي دي:(مَنْ سَدَّ فُرْجَةً فِي صَفٍّ رَفَعَهُ اللَّهُ بِهَا دَرَجَةً، وَبَنَى لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ)[2]

ياني: کوم سړی چې په صف کې خالي ځای ډک کـړي، الله تعـالی بـه د هغه درجات زيات کړي او د هغه لپاره به په جنت کې کور جوړ کړي.

علامه سيوطي رحمه الله هم په همدې مفهوم سره يـو حـديث نقـل کـړی دی، دی وايي رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي:

(مَنْ سَدَّ فُرْجَةً فِي صَفٍّ رَفَعَهُ اللَّهُ بِهَا دَرَجَةً، وَبَنَى لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ)[3]

چې مانا او الفاظ يې پورته حديث ته ورته دي.

## په تجارت باندې جنت

د نبې معاملې په اړه هم په احاديثو کـې ډېـر فضـيلت بيـان شـوی دی، د مثال په توګه که ته يو شی اخيستل يـا پلـورل غـواړې، نـو د کـوم سـړي سره چې معامله کوې، نو له هغه سره په خوش اخلاقۍ او ورين تندي مخامخ شه، د خرڅوونکي شي په حقيقت يې اګاه کړه، دوکه ورته مه ورکوه، يا تا يو چاته

[1] مسند البزار – البحر الزخار (۱۰/ ۱۵۹).
[2] المعجم الأوسط (۲/ ۲۱).
[3] الدر المنثور في التفسير بالمأثور (۷/ ۱۳۸).

پور ورکړی، نو په ښې طریقې یې ترې وغواړه، که له هغه سره څه نه وو، نور مهلت هم ورکړه، دغه ټول کارونه د ښې معاملې سره اړیکه لري.

او د الله تعالی په وړاندې ډېر د قدر وړ دي، په دغسې وړو وړو کارونو باندې الله تعالی خپل بنده ګان جنت ته داخلوي.

ځکه چې دا الهي قانون دی، چې یو څوک یې د بنده ګانو سره ښه چلند او معامله ترسره کوي، الله تعالی هم له هغه سره هماغسې معامله ترسره کوي او بدله یې ورته د قیامت په ورځ ورکوي او جنت پرې لوروي.

په همدې موضوع یو څو احادیث وړاندې کوو، حذیفه رضی الله عنه وایي، ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم اورېدلي دي، چې ویې ویل:("إِنَّ رَجُلًا كَانَ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، أَتَاهُ المَلَكُ لِيَقْبِضَ رُوحَهُ، فَقِيلَ لَهُ: هَلْ عَمِلْتَ مِنْ خَيْرٍ؟ قَالَ: مَا أَعْلَمُ، قِيلَ لَهُ: انْظُرْ، قَالَ: مَا أَعْلَمُ شَيْئًا غَيْرَ أَنِّي كُنْتُ أُبَايِعُ النَّاسَ فِي الدُّنْيَا وَأُجَازِيهِمْ، فَأُنْظِرُ المُوسِرَ، وَأَتَجَاوَزُ عَنِ المُعْسِرِ، فَأَدْخَلَهُ اللَّهُ الجَنَّةَ")(۱)

یانې: له تاسې نه وړاندې خلکو کې یو سړی و، ملایک د هغه روح قبض کولو پسې راغلی و، نو هغه سړي ته یې وویل:تاته خپل کوم نېک عمل په یاد دی؟

هغه خواب ورکړ: نه!

بیا یې ورته وویل: ښه فکر وکړه.

نو هغه وویل: زما په علم کې پرته له دې خبرې نه بله کومه خبره نشته، هغه دا چې ما به د خلکو سره د راکړې او ورکړې معامله کوله، یانې خرڅول او اخیستل به مې کول، شتمنو ته به مې مهلت ورکولو او غریبان به مې معاف کول؛ نو په دې معاملې باندې الله تعالی هغه په جنت کې داخل کړو.

(۱) صحیح البخاري(۴/ ۱۲۹).

په يو بل روايت کې راځي، چې:(عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " كَانَ تَاجِرٌ يُدَايِنُ النَّاسَ، فَإِذَا رَأَى مُعْسِرًا قَالَ لِفِتْيَانِهِ: تَجَاوَزُوا عَنْهُ، لَعَلَّ اللَّهَ أَنْ يَتَجَاوَزَ عَنَّا، فَتَجَاوَزَ اللَّهُ عَنْهُ")[1]

له عبيدالله بن عبدالله څخه روايت دی، چې هغه له ابوهريره رضی الله عنه څخه اورېدلي دي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي:يو تجار و، چې خلکو ته به يې پورونه ورکول، کله به يې چې يو تنګلاسی وليده، نو خپلو خادمانو ته به يې ويل، دا معاف کړئ، کېدای شي چې د دې په بدل کې الله تعالی موږ ته معافي وکړي، نو الله تعالی هغه وبښلو.

حافظ ابن حجر رحمه الله د دې حديث په تشريح کې ليکي، چې:"له دې حديث نه دا خبره په پوهه کې راځي، که نېکي هر څومره وړه وي، خو چې د اخلاص سره وي، نو د سترو ګناهونو د کفارې سبب جوړېدلای شي. او دا هم ترې څرګنده شوه، چې يو څوک د نېکۍ امر کوي، نو په دې ثواب ورکول کېږي؛ اګر که خپله يې هم نه کوي."[2]

## د جنتي زېرې ورکوونکي صحابي کيسه

يو صحابي رضی الله عنه ته نبي کريم صلی الله عليه وسلم د جنت زېرې ورکړې و او صحابه کرامو رضی الله عنه ته يې وښود، چې دا سړی جنتي دی.

صحابه کرامو رضی الله عنه د هغه د اعمالو څارنه وکړه، چې اخر کوم عمل ترسره کوي، چې د هغې له امله ورته په دنيا کې د جنت زېرې ورکول شو، نو معلومه شوه، چې يو د ويده کېدو په وخت کې او بل د سترګو غړولو پرمهال به يې د الله تعالی يادونه کوله.

---

[1] صحيح البخاري (۳/ ۵۸).
[2] فتح الباري، ټوک:۴، مخ:۳۶۱.

او بل خبره دا وه، چې د هغه زړه د حسد نه پاک و، د هغه کیسه په حدیث مبارک کې داسې بیان شوې ده.

الزهري له انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دی، چې موږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل:اوس به ستاسې مخې ته یو جنتي سړی راشي، دا د انصارو څخه یو سړی و (د صحیح قول مطابق د هغه نوم سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه دی)، د هغه د ږیرې نه د اودس اوبه څڅېدلې او څپلې پښې یې په لاس کې نیولې وې.

چې دویمه ورځ راغله، نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم هماغه خبره وکړه، دویم وار هم هماغه سړی په مجلس کې داخل شو، چې کله یې درېیم ځل نبي کریم صلی الله علیه وسلم هماغه خبره تکرار کړه، نو بیا هم په هماغسې حالت کې مجلس ته راغی.

کله چې مجلس پای ته ورسېده، نو عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه ورپسې شاته روان شو او ورته یې وویل: ما مې له خپل پلار سره شور کړی او قسم مې خوړلی، چې درې ورځې به کور ته نه ځم. ایا ته مې درې ورځې له ځان سره ساتلی شې؟

هغه ورته ځواب ورکړ: هو، ولې نه!

انس رضی الله عنه وویل: وروسته عبدالله رضی الله عنه بیان کوي، چې ما له هغه څوان سره درې شپې تېرې کړې، د سحر لمانځه پورې یې ما کومه خاصه خبره محسوس نه کړه، پرته له دې نه چې د شپې به یې اړخ بدلولو یا سترګې به یې وغړولې، نو د الله تعالی حمد، ثنا او لويي به یې بیانوله.

عبدالله رضی الله عنه وايي: له دې نه پرته یوه دا خبره هم د یادونې وړ ده، چې ما د هغه د خولې نه کله هم کومه بده خبره نه ده اورېدلې.

چې کله درې شپې تېرې شوې او نېږدې وه، چې ما د هغه اعمال کمزوري ګڼلي وای، ورته مې وویل: زما او د پلار ترمنځه کوم خپګان نه و راغلی.

خو ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه درې څلې ستا په اړه اورېدلي، چې وېې ويل: واورئ! ستاسې خوا ته به يو داسې سړی راشي، چې جنتي به وي. او درې څلې هم ته راغلې؛ نو ما اراده وکړه، چې څه ورځې له تا سره پاتې شم او وګورم، چې ته کوم يو خاص عمل ترسره کوې، خو ته مې په يو داسې ځانګړي عمل کولو ونه ليدی.

اخر کوم شی دی، چې ته يې دې مرتبې ته رسولی يې؟

نو ځوان ځواب ورکولو سره ورته وويل: زه له دې نه پرته کوم بل خاص کار نه کوم.

له دې خبرې سره ترې زه روان شوم، نو هغه راته وويل: لږ ودرېږه! يوه بله خبره هم شته او هغه دا چې زما په زړه کې د يو مسلمان لپاره هېڅ کينه نشته او نه مې زړه کې دا شته، چې يو څوک په ښه حالت کې وګورم او حسد (کينه) ورسره وکړم.

نو عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه ورته وويل: همدا خو هغه صفتونه دي، چې ته يې دې مرتبې ته رسولی يې.[1]

که تاسې هم جنتيان جوړېدل غواړئ، نو خپل زړه د مسلمان ورور لپاره د کينې، عداوت، بغض او د حسد په شان د خطرناکې ناروغۍ نه پاک ساتل وي.

خوش قسمته خلک هغه دي، چې زړونه يې له داسې شيانو صفا ستره وي، له الله تعالی څخه دعا کوم چې ما او تاسې د هغو خلکو په کتار کې راولي، چې د هغو په اړه قرآن کريم راځي:(وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ إِخْوَانًا عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَابِلِينَ﴿٤٧﴾ سورة الحجر)

ژباړه:((د هغو په زړونو کې که لږ ډېر د خيري رخه وي، هغه به مونږ ترېنه وباسو، هغوی به په خپلو مينځو کې ورونه ورونه يو بل ته مخامخ پر تختونو کېني.))

---

[1] شعب الإيمان(٧/٩).

# د جنتي مېرمنې نښې

علامه ذهبي رحمه الله په خپل کتاب (الکبائر) کې لیکي، چې مېرمنو ته دوه کارونه کول پکار دي:

۱. ... د الله تعالی د اطاعت پوره کوښښ.

۲. ... د خپل مېړه رضا کول.

ځکه په همدې بنا یې د دوزخ او جنت پرېکړه کېږي. د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی:

(أَيُّمَا امْرَأَةٍ مَاتَتْ، وَزَوْجُهَا عَنْهَا رَاضٍ، دَخَلَتِ الْجَنَّةَ)(۱)

یانې: د کومې ښځې مړینه چې په داسې حال کې وشي، چې مېړه ترې رضا وي، نو د هغې ځای جنت دی.

دغه شان په یو بل حدیث کې راځي، چې د ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی، چې د هغه مفهوم داسې دی:(قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا صَلَّتِ الْمَرْأَةُ خُمُسَهَا، وَصَامَتْ شَهْرَهَا، وَحَصَّنَتْ فَرْجَهَا، وَأَطَاعَتْ بَعْلَهَا، دخلت من أي أبواب الجنة شاءت")(۲)

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: کله چې ښځه د پینځه وخته لمونځ پابندي کوي او د رمضان روژې نیسي- او د خپل شرم ځایونو ساتنه کوي او د خپل مېړه اطاعت کوي، نو چې په کومې دروازې وغواړي، جنت ته داخلېدلای شي.

---

۱ سنن ابن ماجه (۱/ ۵۹۵). سنن الترمذي ت بشار (۲/ ۴۵۷).

۲ صحيح ابن حبان - محققا (۹/ ۴۷۱).

# د جنت کیلیانې

(عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ الصَّلَاةُ، وَمِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الْوُضُوءُ»)[1]

له جابر بن عبدالله رضی الله عنه څخه روایت دی، دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: د جنت کیلي لمونځ دی او د لمانځه کیلي اودس دی.

او امام احمد بن حنبل رحمه الله د الفاظو په لږ تغییر سره بل حدیث رانقل کړی دی، چې:(مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ الصَّلَاةُ، وَمِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطُّهُورُ)[2]

یانې: د جنت کیلي لمونځ دی او د لمانځه کیلي پاکوالی دی.

درنو لوستونکو!

دغه دوه خبرې د خپل ژوند معمول وګرځوئ، څکه نبي کريم صلی الله علیه وسلم په خپلې ژبې مبارکې سره د دې په بدل کې د جنت خوش خبری یادونه کړې ده.

په (جامع العلوم والحکم) کې منقول دی، چې لمونځ د جنت کیلي ده، څکه چې د جنت دروازې بندې دي او په نېکو کارونو سره پرانیستل کېږي او لمونځ د اطاعت یو اهم رکن دی او لمونځ پرته له پاکی نه نه کېږي، نو اودس د لمونځ کیلي ده.

او لمونځ د جنت کیلي ده او کوم سړی چې د لمانځه پابندي کوي، نو اودس کول پرې اول لازم ګڼل کېږي.

نو دغه دواړه عملونه به انشاءالله جنت ته د دننه کېدو سبب جوړ شي، چې همدا زموږ د هېلو مرکز او منزل مقصود دی.[3]

---

[1] سنن الترمذي ت شاكر (۱/ ۱۰).

[2] مسند أحمد مخرجا (۲۳/ ۲۹).

[3] جامع العلوم والحكم، ټوک:۱، مخ:۲۱۴.

**د اودس فضیلتونه**: د لمانځه په اړه حدیث کې راځي، چې له عقبه بن عامر الجهني رضی الله عنه څخه روایت دی،چې هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي، چې مفهوم یې داسې دی:

(مَا مِنْ أَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ الْوُضُوءَ، وَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، يُقْبِلُ بِقَلْبِهِ وَوَجْهِهِ عَلَيْهِمَا، إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ)(۱)

یانې: کوم مسلمان چې په ښه طریقې سره اودس په پوره توجو وکړي او د عاجزی سره دوه رکعاته لمونځ وکړي، جنت پر هغه واجب شو.

## د اودس نه وروسته د دعا فضیلت:

د اودس په اړه هم له عقبه بن عامر رضی الله عنه څخه روایت دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: ("مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُبْلِغُ – أَوْ فَيُسْبِغُ – الْوَضُوءَ ثُمَّ يَقُولُ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ".)(۲)

یانې: په تاسې کې چې څوک هم اودس کوي، په مسنونې طریقې سره دی اوبه رسوي او اودس به کوي، د اودس کولو نه وروسته به دا دعا لولي:(أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ)"زه گواهي ورکوم، چې له الله تعالی نه پرته بل معبود نشته، چې یوازې دی او هېڅ شریک نه لري او محمد صلی الله علیه وسلم د هغه رسول او بنده دی." نو د هغه لپاره به د جنت اته واړه دروازې پرانیستل شي، چې په کومې دروازې غواړي دننه کېدلای شي.

او دغه راز په مسلم کې د دې دعا الفاظ داسې هم رانقل شوي دي:

---

(۱) سنن أبي داود (۱/ ۲۳۸).
(۲) صحيح مسلم (۱/ ۲۰۹).

CS CamScanner

(أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُـــولُهُ، وَأَنَّ عِيسَى عَبْدُ اللهِ، وَابْنُ أَمَتِهِ، وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْـــهُ، وَأَنَّ الْجَنَّةَ حَقٌّ، وَأَنَّ النَّارَ حَقٌّ)[1]

له دې نه وروسته د جامع العلوم ليکوال ليکي، چې: د پورته حديث مبارک په رڼا کې دا خبره ثابتېږي، چې په مسنونې طريقې سره اودس کول د جنت د دروازو پرانيستلو سبب جوړېږي او د دې حيثيت د نيم ارکان برابر دی.

درنو لوستونکو!

اودس له هغه ايماني صفتونو څخه دی، چې د هغې رعايت يوازې مومن مسلمان کولای شي.

لکه څنګه، چې په حديث شريف کې راځي:

(لايحافظ على الوضوء الا مؤمن.)

ياني: د اودس ساتنه يوازې مؤمن کولای شي.

انس رضی الله عنه د حديث روايت کوونکی دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ماته وويل:

("يَا بُنَيَّ إِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تَكُونَ أَبَدًا عَلَى وُضُوءٍ فَافْعَلْ، فَإِنَّ مَلَكَ الْمَوْتِ إِذَا قَبَضَ رُوحَ الْعَبْدِ وَهُوَ عَلَى وَضُوءٍ كُتِبَ لَهُ شَهَادَةٌ")[2]

ياني: ای زويه! که له تا نه وکول شي، نو تل د اودس په حالت کې اوسه او ضرور داسې کوه، چې د مرګ ملايک کله د چا روح قبض کوي، نو کله چې يو څوک د اودس په حالت کې وي، نو هغه ته د شهادت مرګ ليکي.

علامه عبدالرووف مناوي رحمه الله وايي: الله رب العزت د هر يو شي لاسته راوړلو لپاره يو سبب جوړ کړی دی او د دې سبب اختيارولو نه پرته د هغې مقصد ترلاسه کول ناشوني دي.

---

[1] صحيح مسلم (۱/ ۵۷).

[2] شعب الإيمان (۴/ ۲۸۵).

څه ځیزونه د مثال په توګه درج کوو:

۱. لمونځ د اودس او پاکوالي نه پرته نه شي کېدی.

۲. حج د احرام تړلو نه پرته نه کېږي.

۳. د نېکۍ په کارونو کې ترقي په صدقې سره کېږي.

٤. د جنت لاس ته راوړل پرته له توحیده ناشوني دي.

۵. د علم ترلاسه کولو لپاره ښې پوښتنې، توجـو او د اورېدلو سـتر لاس دی.

٦. د کامیابۍ راز صبر دی او د برکت حاصلولو سبب شکر دی.

۷. د الله تعالی محبت د ذکر نه پرته ناشونی دی.

۸. که د کامیابه او ارامه ژوند خواهش لرې، نو تقوا به غوره کـوې، د نېکـو کارونو پلو رغبت کول او د ګناهونو څخه ډډه کول، دا هر څه د الله تعالی له توفیق نه پرته ناشـوني دي او د اخـرت فکـر پیـداکولو لپـاره د دنیـا نـه لـرې کېدل اړین دي.

۹. کوم سړی چې د الله تعالی لخوا د جوړ شوي عجیب او غریب کاینـاتو باندې غور او فکر وکړي، نو په هغه به د ایمان شتمني ولورول شي، که زړه د غیرالله نه پاکول غواړې، نو د الله تعالی د احکامو پابندي به کوي.

لنډه دا چې که له چا سره مینه کوې یـا نفرت، د دې ټولـو دارومـدار بـه یوازې د الله تعالی دین وي.

۱۰. د زړونو رڼـایي پـه قـران پـاک کـې د غـور او فکـر سره سـحر کـې د بیدارۍ په وخت کې موندل کېږي.

که الهي رحمت خپل لور ته متوجې کول غواړې، نو د الله تعالی مخلـوق ته د ګټې رسونې فکرونه به کوئ.

۱۱. د رزق د پراخـوالي پیـداکولو لپـاره بـه کـثرت سره د اسـتغفار ویلـو کوښښ به کوې، که څو عقلمند جوړېدل غواړې، نو د الله تعـالی اطاعـت بـه غوره کوې، د اخرت د تیارې لپاره به دنیاوي خواهشاتو کې کمبود راولي.

د خير توفيق د هغه چا نه کېدلی شي، له چا سره چې د اخرت فکر ملګری وي او د چا په زړه کې چې دنياوي محبتونه غزونې کوي او اوږده اوږده اميدونه يې په زړه کې ځای نيسي، هغه به له خير څخه محروم وي، که د دنيا او اخرت ښېګنه غواړي.

نو دغه ټکي وروره! د خپل ځادر پورې او خورې د خپلې لوپټې پېڅکې پورې غوټه کړه او د نېکۍ په کارونو کې لومړيتوب سره برخه واخلئ او د خپل رب مغفرت حاصل کړئ او د جنت د حقدارانو په ليست کې خپل نومونه وليکئ، چې د هغې د پراخوالي اندازه د اسمان او ځمکې هومره دي.

## لارې پاکې کړئ!

ملا علي قاري رحمه الله وايي، چې دا خبره ښه په ذهن کې وساتئ، کوم سړی چې د لار نه ضرري څيز لرې کړي، نو په دې ورته اجر ورکول کېږي، د لارې نه د ضرر رسوونکي څيز لرې کول، که هغه په ظاهره يو کوچنی کار ښکاري، خو دغه وړه نېکي هم ستا د ښېنې وسيله جوړېدلی شي، نو تر ټولو وړه نېکي هم ناچيزه ګڼلو سره مه پرېږدئ! که ګناه هر څومره وړه هم وي، د ځان ساتلو او بچ کولو فکر ترې کوئ.

ځکه چې د الله تعالی فرمان مبارک دی:(فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْراً يَرَهُ﴿٧﴾ وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرّاً يَرَهُ﴿٨﴾ سورة الزلزلة)

ژباړه:((بيا چا چې يوه ذره قدرې نېکي کړې وي، وبه يې ګوري. او چا چې يوه ذره قدرې بدي کړې وي وبه يې ګوري.))

دغه راز له ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي:(بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي بِطَرِيقٍ، وَجَدَ غُصْنَ شَوْكٍ عَلَى الطَّرِيقِ فَأَخَّرَهُ، فَشَكَرَ اللَّهُ لَهُ، فَغَفَرَ لَهُ)[1]

---

[1] مسند أحمد مخرجا (۱۲/۵۲۲).

یانې: یو سړی په لاره روان و، په دې دوران کې یې یوه اغزنه لښته په لاره کې پرته ولیده، نو هغه یې د لارې نه لرې کړه، الله تعالی د هغه د دې عمل قدرداني وکړ او ویې بښلو.

مستیز بن احضر له خپل پلار څخه نقل کوي، چې هغه له معقل بن یسار رضی الله عنه سره روان و، نو په لاره کې یې یو ضرري څیز ولید، معقل رضی الله عنه هغه د لارې نه یو خوا ته گوزار کړ.

بیا ما هم داسې شی ولید، نو ما هم د لارې نه ایسته کړ، هغه درانه زما لاس نیولو سره وویل: وراره! تا داسې ولې وکړل؟

ما وویل: کاکا! ما ته په داسې کار کولو سره ولیدې او ستا تابعداري مې وکړه.

نو هغه راته وویل: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي، چې: (مَنْ أَمَاطَ أَذًى عَنْ طَرِيقِ الْمُسْلِمِينَ كُتِبَتْ لَهُ حَسَنَةٌ وَمَنْ كُتِبَتْ لَهُ حَسَنَةٌ دَخَلَ الْجَنَّةَ)[۱]

یانې: چا چې د مسلمان د لارې نه ضرر رسوونکی شی لرې کړ، نو هغه ته به یوه نېکي ولیکل شي او چې د چا یوه نېکي هم ولیکل (قبوله) شي، جنت ته به داخل شي.

## د مسلمان د سر او مال حرمت، له کعبې څخه هم زيات دی

له عبدالله بن عمرو رضی الله عنه څخه روایت دی، چې ما رسول الله صلی الله علیه وسلم د کعبې طواف کولو سره ولید او کعبې ته مخامخ کېدو سره یې وویل: (مَا أَطْيَبَكِ وَأَطْيَبَ رِيحَكِ، مَا أَعْظَمَكِ وَأَعْظَمَ حُرْمَتَكِ، وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَحُرْمَةُ الْمُؤْمِنِ أَعْظَمُ عِنْدَ اللَّهِ حُرْمَةً مِنْكِ، مَالِهِ، وَدَمِهِ، وَأَنْ نَظُنَّ بِهِ إِلَّا خَيْرًا)[۲]

---

۱ الأدب لابن أبي شيبة (ص: ۱۸۱).
۲ سنن ابن ماجه (۲/ ۱۲۹۷).

ياني: ته څومره سپېڅلى يې؟ ستا خوشبو څومره ښكلې ده؟ د الله تعالى په وړاندې ستا عظمت او حرمت څومره ستر دى، خو قسم په هغه ذات چې د هغه په اختيار او قدرت كې د محمد صلى الله عليه وسلم روح دى، د مسلمان د سر او مال حرمت د الله تعالى په نېز له تا نه هم زيات دى.

له دې احاديثو څخه اندازه لگي، چې مسلمان ته تكليف او ضرر رسول الله تعالى ته څومره ناخوښه عمل دى.

او ورته راحت رسولو لپاره واړه كارونه هم الله تعالى ته زيات خوښ دي.

نو دې لپاره د هر قدم پورته كولو نه وړاندې دا فكر كول پكار دى، چې زما له دې كار سره خو به كوم مسلمان ورور ته تكليف نه رسي.

درنو لوستونكو! لږ غور وكړئ، الله تعالى له موږ سره څومره د مينې او شفقت معامله كوي، چې مومن ته د راحت وركولو وړو وړو كارونو باندې مو د جنت حقداره گرځوي.

خو زموږ څه حالت دى، موږ د الله تعالى لورول شوي نعمتونه د هغه په نافرمانۍ كې استعمالوو او بيا پرې لږ پښېمانه كېږو هم نه... .

دا څومره د افسوس مقام دى؟!!!

الله تعالى موږ ته لاسونه راكړي او په دغه لاسونو باندې موږ څه څه گناهونه كوو؟!

په همدې سترگو بد نظر كوو او نه يې ښكته كوو، چې الله تعالى رابانـدې لورولې دي.

همدغه ژبه ده، چې الله تعالى راته د خپل ذكر، د قرآن كريم تلاوت او د ديني دعوت د استعمال لپاره رابانـدې لـورولې ده، خـو مـوږ يـې د فحش ويناوو، سندرو، كنځلو او الله خبر څومره نورو گناهونو لپاره استعمالوو.

دغه حال د نورو نعمتونو هم دى، لږ فكر وكړئ، چې الله تعالى په دغه بدني غړو كې كوم قوتونه اېښي دي او دا ترې واخلي، بيا به څه كوو؟!

نو لږ له عقل او پوهې څخه كار واخلئ او د غفلت له خوبه بيدار شئ او د خپل رب د رضا كولو په فكر كې شئ (يوه نېكي هم معمولي مه گڼئ!).

د الله تعالى فرمان دی:

(فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْراً يَرَهُ﴿٧﴾سورة الزلزلة)

ژباړه:((بیا چا چې یوه ذره قدرې نېکي کړې وي، وبه یې ګوري.))

او په بل ځای کې وايي:(إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَخْفَىٰ عَلَيْهِ شَيْءٌ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِى ٱلسَّمَآءِ﴿٥﴾ سورة ال عمران)

ژباړه:((په ځمکه او اسمان کې هېڅ شی، له الله تعالی نه پټ نه دی.))

الله تعالى د کايناتو د ذرې ذرې نه خبر دی، بس چا ته چې هم د نېکی کولو موقع په لاس ورشي، هغه دې نه ضایع کوي.

کېدای شي، چې همدا نېکي ستا په کار راشي او ستا د مغفرت سبب وګرځي، اوس درته د یوې داسې ښځې کیسه بیانوم، چې هغې به د جومات نه وړې وړې خځلې راټولولې او جارو کولې، الله تعالی د همدې عمل په سبب وبښله.

. له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی، چې یوې ښځې به د جومات نه وړې وړې خځلې راټولولې او جارو کولې. کله چې وفات شوه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې چا خبر نه کړ او هغه ته د ویلو نه مخکې یې خاورو ته وسپارله، کله چې نبي علیه السلام ته معلومه شوه، نو ویې ویل:

(«إِذَا مَاتَ مِنْكُمْ مَيِّتٌ فَآذِنُونِي»، وَصَلَّى عَلَيْهَا، وَقَالَ: «إِنِّي رَأَيْتُهَا فِي الْجَنَّةِ لَمَّا كَانَتْ تَلْقِطُ الْقَذَى مِنَ الْمَسْجِدِ»)[1]

یاني: کله چې په تاسې کې یو څوک مړ شي، نو ما پرې خبروئ، بیا دویم وار رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې جنازه وکړه او ویې ویل: چې دا ښځه ما په جنت کې ولیده، ځکه چې دې به د جومات نه خځلې او نور شیان راټولول.

---

[1] المعجم الأوسط (۸/ ۱۴۳).

# د روغبړ فضیلت او ثواب

درنو لوستونکو! د مصافحه او روغبړ کولو هم په احادیثو کې ډېر فضیلت راغلی دی. د دې وجه دا ده، چې په محبت کې زیاتوالی ورسره راځي او له زړونو څخه نفرت ورسره ختمېږي.

له روغبړ کوونکو څخه ګناه داسې رژېږي، لکه د خزان په موسم کې چې وچې پاڼې چې له ونو څخه رژېږي.

برا بن عازب رضی الله عنه روایت کړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي:

(مَا مِنْ مُسْلِمَيْنِ يَلْتَقِيَانِ، فَيَتَصَافَحَانِ إِلَّا غُفِرَ لَهُمَا قَبْلَ أَنْ يَفْتَرِقَا)[۱]

یانې: کوم دوه مسلمانان چې خپلو کې مخامخېږي او روغبړ کوي؛ نو الله تعالی دغه دواړه یو د بل نه د جداکېدو نه مخکې ورته بښنه کوي.

دغه راز رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: (إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ فَتَصَافَحَا، وَحَمِدَا اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ، وَاسْتَغْفَرَاهُ غُفِرَ لَهُمَا)[۲]

یانې: کله چې دوه مسلمانان سره یوځای شي او د یو بل سره په لاس روغبړ کوي او د الله تعالی حمد او ثناء بیانوي او په خپلو ګناهونو استغفار کوي، نو الله تعالی به دې دواړو ته بښنه وکړي.

دغه شان نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلي دي: یقیناً کله چې یو مسلمانان ورور د بل مسلمان ورور سره لاس ورکړي، نو ګناه تړې داسې رژېږي، لکه له وچې ونې څخه چې تېز باد او توپان پاڼې رژوي. که څه هم د سمندر د ځګ برابر وي.[۳]

---

[۱] سنن أبي داود (۴/۳۵۴).

[۲] سنن أبي داود (۴/۳۵۴).

[۳] الترغیب والترهیب، ټوک:۳، مخ:۲۹۱، حدیث نمبر ۴۱۱۹.

## له الله تعالی څوک پوښتنه نه شي کولای؟!

الله تعالی چې څه وغواړي کولای یې شي، څوک ترې پوښتنه نه شي کولای.

عالمان وايي: له الله تعالی څخه د کوم کار په اړه پوښتنه نه شي کېدلای، د هغه خپله خوښه ده، چې څنګه وغواړي هماغسې کوي، خو د بنده نه د هغه د اعمالو په اړه ضرور پوښتنه کېږي، لکه څنګه چې په قرآن کريم کې راغلي دي:

(لَا يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْأَلُونَ﴿۲۳﴾ سورة الانبياء)

ژباړه:((هغه د خپلو چارو لپاره (د چا په وړاندې) پوښتېدونی نه دی او دوی ټول پوښتېدوني دي.))

بيا د الله تعالی خوښه ده، چې په خپل رحمت سره يوه وړه نېکي قبوله کړي او له سترو سترو ګناهونو څخه تېر شي.

لکه څرنګه چې يې په بني اسرائيلو کې يوه زناکاره ښځه له دې امله ښلې وه، چې هغې يو تږي سپي ته د کوهي په غاړه اوبه ورکړې وې.

او که وغواړي، نو د وړې نه وړې خطا بانـدې دې هم رانيولی شي، لکه څنګه چې يـوې ښځې پيشو وږې تـږې ساتلې وه او پـرې يې دوزخ کې واچوله.

د الله تعالی په فيصلو کې څوک څنډ نه شي راوستلای، چې کومه فيصله وکړي، هغه په انصاف سره وي، ځکه چې زموږ خالق او مالک دی، د دې کايناتو بادشاهي يوازې الله تعالی لره ده.

دلته اوس يو څو احاديث بيانوو، چې په کې د دې رنګه پېښو ذکر شوی دی.

له ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي:(غُفِرَ لِامْرَأَةٍ مُومِسَةٍ، مَرَّتْ بِكَلْبٍ عَلَى رَأْسِ رَكِيٍّ يَلْهَثُ،

قَالَ: كَادَ يَقْتُلُهُ العَطَشُ، فَنَزَعَتْ خُفَّهَا، فَأَوْثَقَتْهُ بِخِمَارِهَا، فَنَزَعَتْ لَـهُ مِـنَ المَاءِ، فَغُفِرَ لَهَا بِذَلِكَ.)(۱)

یانې: د یوې بدکارې ښځې مغفرت له دې امله شوی و، چې د هغې لیدنه په یو سپي وشوه، چې د کوهي په غاړه ولاړ و او د تندې له امله رېږدلو، نږدې وه، چې له تندې نه مړ شوی وای، نو هغې ښځې خپله پڼه د پړوني پیځکې پورې وتړله او د سپي لپاره یې اوبه راوویستلې، الله تعالی هغې ته ښښنه وکړه.

بل حدیث دی، چې:(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَـلَّى الله عَلَيْـهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي بِطَرِيقٍ، اشْتَدَّ عَلَيْهِ العَطَشُ، فَوَجَدَ بِئْرًا فَنَزَلَ فِيهَا، فَشَرِبَ ثُمَّ خَرَجَ، فَإِذَا كَلْبٌ يَلْهَثُ، يَأْكُلُ الثَّرَى مِنَ العَطَشِ، فَقَـالَ الرَّجُلُ: لَقَدْ بَلَغَ هَذَا الكَلْبَ مِنَ العَطَشِ مِثْلُ الَّذِي كَانَ بَلَغَ بِي، فَنَزَلَ البِئْرَ فَمَلَأَ خُفَّهُ ثُمَّ أَمْسَكَهُ بِفِيهِ، فَسَقَى الكَلْبَ فَشَكَرَ اللَّهُ لَهُ فَغَفَرَ لَهُ " قَالُوا: يَـا رَسُولَ اللَّهِ [ص:۱۰]، وَإِنَّ لَنَا فِي البَهَائِمِ أَجْرًا؟ فَقَالَ: «نَعَمْ، فِي كُلِّ ذَاتِ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أَجْرٌ»)(۲)

له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: یو سړی په لاره کې ډېر تږی شو، نو هغه یـو کـوهی ولیـدو، هغه کوهي ته ورکوز شو او خپله تنده یې ماته کړه، چې بېرته راوختلـو، نـو د هغه نظر پـه یـو سـپي پرېوتلـو، چـې لـه تنـدې نـه پـه لـړزان و او د اوبـو نـه پیداکېدو له امله یې په خاورو خوله لګوله، د هغـه سـړي پـه زړه کـې خیـال راغی، چې دې سپي ته تنده رسېدلې ده، لکه څنګه چې لـړه شـبېه مخکـې ماته رسېدلې وه، د دې خیال په راتلو سره کوهي ته کوز شو او خپله پڼه یې د اوبو نه راډکه کړه او په سپي یې اوبه وڅښلې.

---

(۱) صحیح البخاري(۴/۱۳۰).
(۲) صحیح البخاري(۸/۹).

د الله تعالی د هغه دا عمل ډېر خوښ شو او ښنه يې ورته وکړه، صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړ: ای د الله تعالی رسوله صلی الله علیه وسلم! له ځناورو سره په ښه کولو باندې هم اجر ورکول کېږي؟!

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وويل: له هر ذی روح سره په ښه سلوک کولو باندې اجر ورکول کېږي.

په بل ځای کې راځي، چې: (عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «دَخَلَتِ امْرَأَةٌ النَّارَ فِي هِرَّةٍ رَبَطَتْهَا، فَلَمْ تُطْعِمْهَا، وَلَمْ تَدَعْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الأَرْضِ»)(۱)

له ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: یوه ښځه له دې امله په دوزخ کې واچول شوه، چې هغې یوه پیشو تړلې وه، نه یې ورته خپله خواړه ورکول او نه یې ازاده پرېښوده، چې په ځمکه کې خزندې او نور وخوري.

حافظ ابن حجر رحمه الله وايي: په دې حدیث کې دې خبرې ته ترغیب ورکول شوی، چې له حیواناتو سره خلک ښه سلوک وکړي، ځکه چې سپي ته په اوبو ورکولو باندې ښنه کېدلای شي، نو انسان خو بیا اشرف المخلوقات دی.

او چې له انسان سره ښه سلوک وشي، خامخا به يې اجر او ثواب دوه چنده وي.

علامه ابن عبدالبر رحمه الله وايي: چې له دې حدیث نه ځرګندېږي، چې له حیواناتو سره بدسلوک روا نه دی.

او که بیا هم برعکس ورسره څوک ظلم وکړي، ګناهګار به وي.

ځکه په دې حدیث کې ورسره د ښه سلوک کولو باندې د ثواب یادونه شوې ده؛ نو له دې نه دا خبره ښکاره شوه، چې بد سلوک باندې د سزا خطره ده.

(۱) صحیح البخاري (۴/۱۳۰).

# د ښښنې غوښتلو لار

الله تعالی ډېر رحيم او کريم دی او په بنده ګانو باندې يې لورونې دومره زياتې دي، چې حساب يې نشته او د دې نتيجه دا ده، چې په وړو وړو خبرو باندې د خپلو بنده ګانو ګناهونه معاف کوي.

لکه څرنګه، چې په قرآن شريف کې يې بيان کوي:

(إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّـيِّـَٔاتِۚ﴿١١٤﴾ سورة هود)

ژباړه:((بې شکه نېکې بدې لرې کوي.))

او دا يقيني خبره ده، چې د چا ګناهونه وبښل شي او راتلونکی په رښتيني زړه سره توبه وباسي، هغه به جنت ته داخل شي.

نو زما دوستانو! د دومره عنايتونو باوجود که څوک خپله بښنه ونه کړای شي، نو دا به يې د سستۍ او ناغېړۍ له امله وي.

په همدې اړه يو څو اعمال تاسې ته وړاندې کوو او هغه دا چې کله په جمعې سره لمونځ کوئ، نو چې کله امام د سورة فاتحې تلاوت نه فارغ شي، دې وخت کې امين ويل، الله تعالی ته ډېر خوښ دي او له همدې امله بنده خپل محبوب جوړوي او ګناهونه يې بښي.

په احاديثو کې د دې دواړو خبرو صراحت موجود دی، دلته يې په ترتيب سره ولولئ:

(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:"إِذَا أَمَّـنَ الإِمَـامُ، فَأَمِّنُوا، فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ تَأْمِينُهُ تَأْمِينَ المَلاَئِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ)[1]

له ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي: کله چې امام امين ووايي، نو تاسې هم امين ووايئ، څکه چې د چا امين د ملايکو له امين سره يوځای شي، الله تعالی تېر (واړه) ګناهونه ورته ښښي.

---

[1] صحيح البخاري(۱/ ۱۵۲).

CamScanner

ابن شهاب رحمه الله وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به هم امين ويلو.

له ابو موسى اشعري رضی الله عنه څخه په روايت شوي حديث يوه برخه کې راغلي دي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي دي:

(وَإِذَا قَرَأَ {غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ}، فَقُولُوا: آمِينَ، يُحِبُّكُمُ اللَّهُ)[1] يانې: كله چې امام (غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ) ووايي، نو تاسې (آمِين) ورسره ووايئ، الله تعالى به تا خپل خان ته خوښ جوړ کړي.

علامه ابن عبدالبر رحمه الله فرمايي: د دې لامل ماته په څرګنده توګه د ذكر عظمت په نظر راځي.

څکه ذكر يو داسې عمل دی، چې زړونو ته سکون او اطمنان وربښي او د ګناهونو د ښښې سبب هم دی، الله تعالى په قرآن کريم کې د خپلو ملائکو په اړه فرمايلي دي:

(وَيَسْتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ آمَنُواْ﴿٧﴾ سورة المؤمن)

ژباړه:(( او (هغوی) د مومنانو په حق کې د ښښې دعا کوي.))

نو كوم سړی، په رښتينې زړه او پاک نيت سره د توبې عزم وکړي او په سورة فاتحه کې د لوستونکې دعا سره امين ووايي، نو له الهي رحمت څخه قوي اميد دی، چې مغفرت به يې په نصيب شي.

## د (اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الحَمْدُ) ويلو فضيلت

بل عمل دا دی، چې ستاسې د ګناهونو د ښښې سبب جوړېدلای شي، هغه د رکوع نه د پورته کېدو پرمهال په (قومه) قيام کې (اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الحَمْدُ) ويل دي.

دا يو کوچنی عمل دی، چې د ژبې د لږ خوځښت سره اداکېدلای شي، خو دا ستاسې د ګناهونو تلافي کولی شي.

---

[1] سنن أبي داود (۱/ ۲۵۵).

لكه څنګه چې په حديث شريف كې راځي: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا قَالَ الإِمَامُ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، فَقُولُوا: اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الحَمْدُ، فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ قَوْلُهُ قَوْلَ المَلاَئِكَةِ، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ")[1]

له ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي: كله چې امام ووايي(سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ)، نو ته (اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الحَمْدُ) وايه، ځكه د چا دا ويل چې د ملايكو له ويلو سره يوځای شي، نو هغه ته به د (وړو) ګناهونو بښنه وكړای شي.

## د اوداسه د سنتو او مستحباتو غوره والی

د حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه روايت دی، چې هغه د اودس لپاره اوبه راوغوښتلې او د اودس كولو نه وروسته يې وويل: ما په دې طريقې سره رسول الله صلی الله عليه وسلم په اودس كولو ليدلی دی.

(«مَنْ تَوَضَّأَ نَحْوَ وُضُوئِي هَذَا، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ لاَ يُحَدِّثُ فِيهِمَا نَفْسَهُ، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ»)[2]

ياني: "چا چې په داسې طريقې سره اودس وكړ او د سنتو او مستحباتو رعايت يې وكړ، بيا يې په پوره توجو سره دوه ركعاته لمونځ وكړ، نو د هغه به تېر ګناهونه معاف شي."

علامه ابن كثير رحمه الله په خپل تفسير (ابن كثير) كې ليكلي: د توبې كولو نه وړاندې دوه ركعاته لمونځ كول ډېر ښه كار دی او دليل لپاره يې د دغه حديث يادونه كړې ده، چې مفهوم يې داسې دی.

له علي رضی الله عنه څخه روايت دی، دی وايي: چې ما كله هم له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه كوم حديث اورېدلی، نو څومره چې

---

[1] صحيح البخاري(۱/ ۱۵۸).
[2] صحيح البخاري(۱/ ۴۳).

الله تعالی ته منظور وي، هومره يې ماتـه ګټـه رارسېدلې ده او زما دا عـادت دی، چې کله به مې له چا له کوم حديث واورېدو، نو د تصديق کولو نه پرتـه به مې ترې لاس نيوی نه کولو، له دې نه وروسته دا حديث رانقل کوي:

ابوبکر صديق رضی الله عنه ماته بيان کولو او هغـه رښتيا وويـل، چـې لـه رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه مې اورېدلي دي، چې رسول الله صـلی الله عليه وسلم وويـل: (مَا مِنْ رَجُلٍ يُذْنِبُ ذَنْبًا فَيَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ الْوُضُوءَ ثُـمَّ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ – وَقَالَ مِسْعَرٌ ثُمَّ يُصَلِّي – وَيَسْتَغْفِرُ اللَّهَ إِلَّا غَفَرَ اللَّهُ لَهُ)[1]

ياني: کوم سړی چې د يوې ګناه کولو نه وروسته په ښـه شـان سره اودس وکړي او دوه رکعاته لمونځ کولو سره توبه استغفار ووايي، نو الله تعـالی د هغـه ګناهونه معاف کوي.[2]

## د ناروغ د پوښتنې ثواب او غوره والی

د ناروغ پوښتنه کول هم ډېر زيات د ثواب کار دی او په مبارکو احاديثو کې يې پرلپسې فضايل بيان شوي دي او د دې توفيق يوازې هغه چاته په نصيب کېږي، چې پر چا الله تعالی رحمت وکړي او په جنة الفردوس کې ورته ځای ورکول غواړي، ايا شته داسې څوک چې دې ارزانې سودا کولو ته تيار شي؟!

چې زموږ ګران او مهربان پيغمبر محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم د دې څو ځله ترغيب ورکړی دی، نو په همدې موضوع باندې يو څو احاديث هم له نظره تېر کړئ:

له ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي:("مَنْ عَادَ مَرِيضًا، نَادَى مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ: طِبْتَ، وَطَابَ مَمْشَاكَ، وَتَبَوَّأْتَ مِنَ الْجَنَّةِ مَنْزِلًا")[3]

---

[1] سنن ابن ماجه (۱/ ۴۴۲).

[2] تفسير ابن کثير، ټوک:۱، مخ:۴۰۸، مسند ابي بکر بن ابی شيبه، حديث نمبر ۲۳۸۷.

[3] سنن ابن ماجه (۱/ ۴۶۴).

یانې: کوم سړی چې د ناروغ پوښتنه کوي، نو د اسمان نه یو غږ کوونکی اواز کوي، چې ته دې تروتازه اوسې او ستا راتګ دې ښایسته وي او تاته به جنت کې ځای درکول شي.

بل روایت کې راځي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي:(مَنْ عَادَ مَرِيضًا لَمْ يَزَلْ فِي خُرْفَةِ الْجَنَّةِ، قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا خُرْفَةُ الْجَنَّةِ؟ قَالَ: «جَنَاهَا»)[1]

یانې: بېشکه مسلمان چې کله د خپل مسلمان ورور پوښتنه کوي، نو دغه وخت پورې د جنت په خرفه کې وي، ترڅو چې بېرته ستون شوی نه وي... پوښتنه وشوه: ای رسول الله صلی الله علیه وسلم! له (خُرْفَةُ الْجَنَّـةِ) څخه مراد څه دی؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: د جنت د ځانګړو مېوو راټولول دي.

د دې حدیث په تشریح کې حافظ ابن حجر عسقلاني رحمه الله څه داسې وايي: چې په دې حدیث کې کوم ثواب د ناروغ په پوښتنې مېلاوېږي، نو د جنت د ځانګړو مېوو سره ورته تشبېه ورکول شوې ده.

دویم قول دا دی، چې (خُرْفَةُ الْجَنَّةِ) څخه مراد د جنت لاره ده، مطلب ترې دا اخیستلای شو، چې د ناروغ پوښتنه کوونکي داسې لاره غوره کړې ده، چې جنت لورې ته درومي. (والله اعلم بالصواب).

دغه راز ابن مردویه له عمر بن خطاب رضی الله عنه څخه روایت کړی دی، چې مفهوم یې داسې دی:

له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشوه: د ناروغ په پوښتنې څومره ثواب ورکول کېږي؟

---

[1] صحیح مسلم(۴/ ۱۹۸۹).

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل:(أن العَبْد إذا عَاد الْمَــرِيض خَاضَ فِي الرَّحْمَة إِلَى حقوه)(۱)

یاني: په دې کې هېڅ شک نشته، چې یو بنده د کوم ناروغ پوښتنه کوي، نو هغه تر اوږو پورې د الله تعالی په رحمت کې ډوب وي.

دارنګه بل حدیث دی:(عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَــلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ، وَعَادَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ مُحْتَســبًا بُوعِدَ مِنْ جَهَنَّمَ، مَسِيرَةَ سَبْعِينَ خَرِيفًا» قُلْتُ: يَا أَبَا حَمْزَةَ، وَمَا الْخَرِيــفُ؟ قَالَ: «الْعَامُ»، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: «وَالَّذِي تَفَرَّدَ بِهِ الْبَصْرِيُّونَ مِنْهُ الْعِيَادَةُ وَهُــوَ مُتَوَضِّئٌ»)(۲)

له انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دی، دی وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: کوم سړی چې په ښه شان سره اودس وکړي او د خپل ورور پوښتنه وکړي، نو دا به د اویا کالو مسافت برابر د دوزخ نه لرې کړای شي.

## د مسلمان ورور حاجت پوره کولو پسې تلل

په جومات کې اعتکاف ته کېناستل ډېر د فضیلت والا عمل دی، په حدیث کې راځي، چې چا د الله تعالی د رضا لاسته راوړنې لپاره یوازې یوه ورځ اعتکاف وکړ، نو الله تعالی به د هغه او دوزخ ترمنځ درې خندکونه جوړ کړي، نو څرګنده ده، چې یو چا ته د دوزخ نه لرې والی ورکول شي، نو هغه به جنت ته داخل شي.

د اعتکاف کوونکي مثال د احرام تړلو په څېر دی، چې خپل ځان د الله تعالی په وړاندې تړي او د ژبې سره اقرار کوي، چې زه به تر هغې پورې ستا در نه پرېږدم، چې ترڅو راباندې رحم ونه کړي.

---

(۱) عمدة القاري شرح صحيح البخاري (۸/۹).
(۲) سنن أبي داود (۳/۱۸۵).

ابوطلحه وايي: ما د طالب علمي په وخت خپل خنې استادان ليدل، چې اونيزه رخصتي به يې غنيمت ګڼله او د رخصتۍ ورځ به يې په اعتکاف کې تېروله او د الله تعالی په توفيق سره ما هم د زده کړې په دوره کې د رخصتۍ په ورځو کې څو ځله اعتکاف کړی دی.

دا خو د اعتکاف فضايل و، خو ايا تاسې غواړئ، چې يو داسې عمل درته وښودل شي، چې د هغې په بدل کې تاسې د شلو کالو اعتکاف ثواب ترلاسه کړئ.

لږ غور وکړئ، شل کاله کمه موده نه ده، دومره وخت پورې اعتکاف کول نه يوازې مشکل؛ بلکې ناشونی عمل دی.

خو که د الله تعالی لخوا توفيق درکول شي، نو تاسې دومره ستر سعادت حاصلولو تمنا به ضرور ولرئ.

نو واورئ د خپل يو مسلمان ورور شرعي اړتيا ضرور پوره کړئ، د هغه مرسته د پرلپسې شل کالو اعتکاف نه غوره ده.

ابن عباس رضی الله عنهما په اړه راځي، چې هغه په نبوي جومات کې اعتکاف لپاره ناست و او يو سړی راغی، سلام يې وکړ او ورسره نږدې کېناستو، ابن عباس رضی الله عنهما ورته وويل: ته ماته خپه ښکارې؟

هغه وويل: هو!... همداسې ده، ماته يو څه خپګان پيدا شوی دی او هغه دا چې د فلاني سړي په ما باندې (حق ولا) ياني پور دی او د نبي کريم صلی الله عليه وسلم قبر ته يې اشارې کولو سره وويل: د دې قبر والا په عظمت مې دې قسم وي، چې زه يې د پوره کولو وس نه لرم.

ابن عباس رضی الله عنه ورته وويل: ايا زه ستا په اړه ورسره خبرې کولی شم.

هغه په ځواب کې وويل: هو! ضرور يې کولی شئ.

ابن عباس رضی الله عنهما خپلې پښې په پښو کړې او له نبوي جومات څخه بحر راووتلو، يو چا ورته ياد کړل، چې ته خو د اعتکاف په حالت کې وې؟

نو ابن عباس رضی الله عنهما د رسول الله صلی الله علیه وسلم روضې په لور اشارې کولو سره وویل: ما د دې قبر والا نه اورېدلي دي، چې هغه زمانه لرې نه ده، چې دې خبرې سره د مبارک سترګې له اوښکې ډکې شوې او بیا یې دا حدیث ولوست:

(مَنْ مَشَى فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ خَيْرًا لَهُ مِنَ اعْتِكَافِ عَشْرِ سِنِينَ، وَمَنِ اعْتَكَفَ يَوْمًا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ جَعَلَ اللَّهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّارِ ثَلَاثَ خَنَادِقَ، كُلُّ خَنْدَقٍ أَبْعَدُ مِمَّا بَيْنَ الْخَافِقَيْنِ)[1]

یانې: کوم سړی چې د خپل ورور ضرورت پوره کولو لپاره د هغه سره لاړ شي او ضرورت یې پوره کړي، نو دا ورته د شلو کالو اعتکاف نه غوره دی او کوم سړی چې یوه ورځ اعتکاف د الله تعالی د رضا د حاصلولو په خاطر وکړي، نو د هغه او د دوزخ ترمنځ به درې خندقونه هومره فاصله پیداکړي، چې د هغې د لرې والي اندازه به د اسمان یوې غاړې نه بلې غاړې هومره وي (د مشرق او مغرب فاصلې هومره).

## د موجوده حالاتو مطابق په زړه پورې دعا

له عمر بن الخطاب رضی الله عنه څخه روایت دی، چې کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې وحې نازلېدله، نو د نبي کریم صلی الله علیه وسلم مخ مبارک سره نېږدې به د شاتو د مچیو په څېر بنګار اورېدل کېده.

یوه ورځ په نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندې همداسې کیفیت راغی او څه شیبه وروسته پای ته ورسېده، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د قبلې په لور لاسونه لپه کړل او دا دعا یې ولوسته.

(اللَّهُمَّ زِدْنَا وَلَا تَنْقُصْنَا، وَأَكْرِمْنَا وَلَا تُهِنَّا، وَأَعْطِنَا وَلَا تَحْرِمْنَا، وَآثِرْنَا وَلَا تُؤْثِرْ عَلَيْنَا، وَارْضِنَا وَارْضَ عَنَّا»)[2]

---

[1] المعجم الأوسط (۷/۲۲۱).

[2] سنن الترمذي ت شاكر (۵/۳۲۲).

بیا يې وويل: همدا اوس پر ما لس آیاتونه نازل شول او چا چې وربانـدې عمل وکړ، جنت ته به داخل شي، بیا یې دا ایاتونه ولوستل:

(قَدْ أَفْلَحَ ٱلْمُؤْمِنُونَ﴿١﴾ ٱلَّذِينَ هُمْ فِي صَلَوٰتِهِمْ خَاشِعُونَ ﴿٢﴾ وَٱلَّذِينَ هُمْ عَنِ ٱللَّغْوِ مُعْرِضُونَ ﴿٣﴾ وَٱلَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَوٰةِ فَاعِلُونَ ﴿٤﴾ وَٱلَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ ﴿٥﴾ إِلَّا عَلَىٰٓ أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ ﴿٦﴾ فَمَنِ ٱبْتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْعَادُونَ ﴿٧﴾ وَٱلَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ ﴿٨﴾ وَٱلَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ ﴿٩﴾ أُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْوَارِثُونَ ﴿١٠﴾ ٱلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿١١﴾ سورة المؤمنون)

ژباړه:((په باوري ډول هغو مؤمنانو بري موندلی دی، چې: په خپل لمانځه کې عاجزي غوره کوي، له عبثو څخه مخ اړوونکي وي. د زکات په کړنچارې عمل کوي. د خپلو شرم ځایونو ساتنه کوي. پرته له خپلو مېرمنو او هغو ښځو څخه چې د هغو وینځې وي، چې پر هغو (د شرم ځایونو په نه ساتنه کې) هغوی د پړکېدو وړ نه دي. البته که څوك له هغې پرته نور څه وغواړي همغوی زیاتی کوونکي دي. د خپلو امانتونو او د خپلو ژمنو او تړونونو لحاظ ساتي. او د خپلو لمونځونو ساتنه کوي. همدغه کسان هغه وارثان دي. چې په میراث کې به فردوس ومومي او په هغې کې به د تل لپاره هستوګن وي.))

علامه ابو جعفر طبري رحمه الله وايي: يقيناً دغو خلکو د خپل رب جنت وموند چا چې د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم تصدیق وکړ او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم لخوا هغو ته د الله تعالی له لوري چې کوم

---

د پورته دعا ژباړه: "ای الله تعالی! موږ ته ډېر راکړې عزت او ابرو، موږ خوار نه کړې او لورينه راباندې وکړې او موږ محروم نه کړې او موږ وراندې کړې نورو باندې او نور راباندې مخکې نه کړې او موږ خوشحاله وساتې او له موږ راضي شې."

احکامات راوړي، هغه يې ومنل او په دغه لسو اياتونو کې يې لس واړه صفتونه خپل کړل.

کعب رحمه الله وايي: الله تعالى په خپل لاس باندې درې شيان پيداکړي، ادم عليه السلام يې په خپل لاس جوړ کړی، تورات يې خپله ليکلی او په جنت عدن کې يې په خپل لاس (نيالگی نال کړي دي) بيا يې ورته وويل: ووايئ څه غواړئ؟!

نو هغو وويل: يقيناً مومنانو بښېگنه وموندله، د خپل شرافت له امله.

## د جنت غوښتنه او پکې داخلېدونکې خلک

له ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی، چې يو اوږد حديث منقول دی، چې پکې د معراج د شپې پېښنه په تفصيل سره ياده شوې ده، د هغې لړه برخه د لوستونکو په خدمت کې وړاندې کوو.

د معراج په شپه نبي کريم صلی الله عليه وسلم په يوه دره باندې تېرېدلو، نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم د مشکو خوشبويي محسوس کړه او يو اواز يې واورېد، نبي کريم صلی الله عليه وسلم وپوښتل: دا غږ د څه شي دی؟

وويل شول: دا د جنت غږ دی، چې خپل رب سره مخاطب کېدو کې وايي: ای زما ربه! زما د اوسېدونکو تا له ما سره وعده کړې ده، دوی ماته راولېږه.

زما ونې د مېوو ډکې دي، زما د ورېښمو غونچې باريکې شوې، حورې، غمي، مرغلرې، سرو او سپين زرو جامونه، گيلاسونه، جيکونه، شات، مېوې، شيده، اوبه او شراب پرېمانه شوي دي (ټولو نعمتونو کې زياتوالی راغلی دی او بلکل تيار دی) اوس دغه خلک ماته راواستوه د چا چې تا له ما سره وعده کړې ده، نو الله تعالی په خواب کې وايي.

هر مسلمان نر او ښځه هم سنا ده او کوم سړی چې پر ما او زما په پیغمبرانو باندې ایمان راوړي، نېک عملونه یې کړي، له ما سره یې څوک شریک کړي نه دي او نه یې څوک زما شریک ګڼل، نو هغوی په امن کې دي.

چا چې له مانه غوښتنه کړې، ما پرې لورینه کړې، چا چې ماته پور راکړی، ما ورته د هغې بدله ورکړې ده، چا چې پر ما باور کړی، زه هغو لپاره بس یمه.

بې شکه زه الله یم، له مانه پرته بل څوک د عبادت لایق نه دی او زه د خپلې وعدې نه مخ نه اړوم، یقیناً مومنانو خیر او ښېګڼه خپله کړه، نو جنت به ووایي: زه رضا یم.

******

دغه څه اذکار چې ډېر اسان عملونه دي، موږ تاسې ته په دې مختصر کتاب کې وړاندې کول.

له الله تعالی څخه دعا کوو، چې دا د مسلمان امت لپاره ګټور وګرځوي او دغه کوچنی هڅه په خپل دربار کې قبوله او منظوره کړي.

آمین

******

د ژباړې پای

۱۹-۱۰-۱۳۹۳ لمریز کال